# ګنډلې شونډې

**مصنف**

**لعل زاده ساګر**



**ټول حقوق په حق د مصنف کښې محفوظ دي**

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم :۔ | ګنډلې شونډې |
| مصنف:۔ | لعل زاده ساګر |
| دَ چاپ نیټه:۔ | |
| شمیر:۔ | (۱۰۰۰) ټوکه |
| کمپوزنګ:۔ | حبیب الرحمن (صافی) |
| ډیزائن:۔ | راضی ګل |
| خورونکے :۔ | باجوړ پښتو ادبی ټولنه باجوړ ایجنسی |
| دَ چاپ ځائے:۔ | اعراف پرنټرز محله جنګی پیښور |
| بیعه | (۱۵۰) |

**د موندلودرکونه**

کتب خانه نافع المسلمین ظفرمارکیټ خار باجوړ

علمی کتب خانه خارباجوړ

مجاهد کتب خانه ماموند اډه عنایت کلے باجوړ

بابا کتب خانه چړائی بازار عنایت کلے باجوړ

## د لعل زاده ساګر درکونه

(۱) کلے ترخو، تحصیل لوی ماموند ، باجوړ ایجنسی فاټا پښتونخوا

(۲) سلیم ساګر هول سیل جراب ډیلر ګلی نمبر 5 مومن آباد فیصل آباد

موبائل:0346-7356900 0301-3000036

بریښنالیک lalzadasagar@yahoo.com

محمد سلیم شاهد:ـ 0300-7272900 0345-7576600

جهان بهادر صدیقی :ـ 0345-5995711



## خصوصي تعاون

له طرفه

دَ ښاغلی **محمد اعظم** صیب او ښاغلی **حمیدالله** صیب

اعتماد شوز سنټر ګول مارکیټ ماموند اډه عنایت کلے باجوړ

او

ښاغلی **سعید عارف باجوړی** صیب

او ښاغلی **عارفین بنوخی** صیب برمنګهم (UK)

**لعل زاده ساګر**

## ترون

زه دَ دې کتاب ترون

دَ هغه

شاعرانو ، اديبانو

سماجي کارکنانو

ډاکټرانو

استاذانو

هنرمندانو

او مزدورانو په نوم کوم

چې په اخلاص او ايمانداری

سره دَ خپل خوږ وطن او سپېڅلی اولس

خدمت تر سره کوی ـ

**لعل زاده ساګر**



## ډالۍ

زه دا کتاب هغه مسافرو خويندو ورونو

ته ډالۍ کوم چې په پرديس کښې هم دَ

ګران وطن مينه په

زړه کښې ژوندۍ ساتی

**ساګر**

## سرلیک


| شمیر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د ادب ونه | ۱ |
| ۲ | د ادب ستورے | ۱۲ |
| ۳ | د ساګر فن او د هغه فنی چاپیرچل | ۱۸ |
| ۴ | مینه محبت د وطن ختهٔ کښې اښکل غواړی | ۲۱ |
| ۵ | خپلې خبرې | ۲۴ |
| ٦ | غزل | ۲۸ |
| ۷ | غزل | ۳۰ |
| ۸ | غزل | ۳۲ |
| ۹ | غزل | ۳۴ |
| ۱۰ | غزل | ۳٦ |
| ۱۱ | غزل | ۳۸ |
| ۱۲ | غزل | ۴۰ |
| ۱۳ | سم قیامت جوړ دے | ۴۲ |
| ۱۴ | غزل | ۴۵ |
| ۱۵ | غزل | ۴۷ |
| ۱٦ | غزل | ۴۹ |
| ۱۷ | ګیلې او فریاد | ۵۲ |
| ۱۸ | غزل | ۵۷ |
| ۱۹ | مزه پاتې نه ده | ۵۹ |
| ۲۰ | دا دَ چا دَ لاسه | ٦۱ |
| ۲۱ | غزل | ٦۵ |
| ۲۲ | غزل | ٦۷ |
| ۲۳ | ګران وطن ته | ٦۹ |
| ۲۴ | غزل | ۷۱ |
| ۲۵ | اغیار | ۷۳ |
| ۲٦ | غزل | ۷۵ |
| ۲۷ | مسافره | ۷۷ |
| ۲۸ | غزل | ۷۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۹ | اورونه | ۸۱ |
| ۳۰ | غزل | ۸۳ |
| ۳۱ | اور دې پرې پورې شي | ۸۵ |
| ۳۲ | بې قدري | ۸۷ |
| ۳۳ | تپوس | ۸۸ |
| ۳۴ | دا ولې | ۹۰ |
| ۳۵ | غزل | ۹۳ |
| ۳۶ | غزل | ۹۵ |
| ۳۷ | پښتوژبه | ۹۷ |
| ۳۸ | غزل | ۹۹ |
| ۳۹ | غزل | ۱۰۰ |
| ۴۰ | غزل | ۱۰۱ |
| ۴۱ | سازش | ۱۰۳ |
| ۴۲ | پیروډی | ۱۰۴ |
| ۴۳ | ښکلی | ۱۰۶ |


ګنډلې شونډې


| | | |
|---|---|---|
| ۴۴ | پیروډی | ۱۰۸ |
| ۴۵ | پیروډی | ۱۱۰ |
| ۴۶ | پیروډی | ۱۱۲ |
| ۴۷ | مړنی دی | ۱۱۴ |
| ۴۸ | ګرانه باجوړه | ۱۱۶ |
| ۴۹ | ښکلے وطن | ۱۲۰ |
| ۵۰ | ننګیالے سپاهی | ۱۲۴ |
| ۵۱ | کالج | ۱۲۷ |
| ۵۲ | (هاتو موټر) 14 ماډل | ۱۳۰ |
| ۵۳ | منسټر | ۱۳۴ |
| ۵۴ | ایم ۔این ۔اے | ۱۳۷ |
| ۵۵ | متاثرین | ۱۴۲ |
| ۵۶ | قطعات | ۱۴۵ |
| ۵۷ | قطعات | ۱۴۶ |
| ۵۸ | قطعات | ۱۴۷ |
| ۵۹ | قطعات | ۱۴۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ٦٠ | قطعات | ١۴٩ |
| ٦١ | قطعات | ١٥٠ |
| ٦٢ | درې شعرونه | ١٥١ |
| ٦٣ | درې شعرونه | ١٥٢ |
| ٦۴ | شعرونه | ١٥٣ |
| ٦٥ | شعرونه | ١٥۴ |
| ٦٦ | چاربيته | ١٥٥ |
| ٦٧ | لوبه | ١٥٧ |
| ٦٨ | بګتئ | ١٥٩ |
| ٦٩ | سندره | ١٦١ |
| ٧٠ | سندره | ١٦٣ |
| ٧١ | خيبر پښتونخوا | ١٦٥ |
| ٧٢ | زهره | ١٦٧ |
| ٧٣ | غزل | ١٧٠ |
| ٧۴ | هائيکو | ١٧٢ |
| ٧٥ | غزل | ١٧۴ |
| ٧٦ | مننه | ١٧٥ |




## ”دَ ادب ونه“

پـو هان ډير څه ليکي او هر څوک په خپل هنر ښه پو هيږی ، مـونـږ چې څـه ليـکو هغه دَ ادب په حقله ليکو ـ دَ ادب ونـه ډيـرې اوږدې څـانګې لری ، او ګورې پانړې لری ـ دَ دې سـوری تـه هـغـه خـلـق دمه کوی چې کوم خلق دَ ادب سره اشـنا وی ـ انسان چې دَ خپل عقل نه کار وانخلی او محنت اونکړی نو مرام ترلاسه کولے نشی ـ

دَ ادب دَ ونې خسمانه اديبان او شاعران کوی ـ چې هر اديب دَ ادب لپـاره دَ خپـل وس مـطـابـق هـلې ځلې کوی ـ دَ کوم څيز خسمانه چې په اخلاص سره کيږی نو هغه وده کوی ، لاپـرواهـی ورته نقصان رسوی ، دَ ادب په روان کاروان کښې خنـډونـه پيـدا کيـدو سره هغـه ګټې نـه ترلاسـه کيږی ، دَ کومې چې مونږ لټون کوؤ ـ ولې چې دَ هر کار لپاره خپل هـنـر وی که چرې مونږ په هنر هم نه پو هيږو او په کړولارو هـم روان شـو نـو دا به زمونږ مجموعی مقصد لپاره دَ زوال وجـه شـی ـ مـونږ له پکار دی چې وررولی اختيار کړو او دَ

Pukhto.Net
www.pukhto.net

پښتو ژبې او ادب خدمت اوکړو ۔ دَ بې ځائې تعصب نه ځان اوساتو نو مونږ به دَ کامیابۍ هغه مقام وګټو دَ کوم لپاره چې مونږ ټولنې جوړې کړې دی ۔

دَ ټولنې جوړولو مقصد پیژندل پکار دی ۔ دا تعصب ، حسد او تنګ نظری نه منی ۔ څوک چې دا کارونه کوی هغه خلق دَ ژوند په هر ډګر کښې پاتې وی ۔ په کومو خلقو کښې چې دَ یوبل قدر نه وی دَ مشروینا منلو ته تیار نه وی نو دغه خلق دَ ټولنې لپاره هیڅ دَ خیرښیګړې کار نشی کولې او نه به پرمختګ وکړی ۔ ولې چې یوې ټولنې ته دَ پرمختګ او بریالیتوب لپاره مینه او اخلاص ډیر ضروری وی ، ځکه چې دَ خدمت اډانه په دې وی ۔ چې دَ بل خبره واورې نو خپله خبره به نورو ته اورسوې ۔ دَ خپل قام او ادب خدمت په روڼ تندی کول پکار دی ۔ زمونږ کار دَ تعصب نه پاک دَ دادب دَ ونې خسمانه ده ۔ او خلقو ته وښایو چې پښتانه دَ ژوند په هر ډګر کښې ځان مخکښې بوتلل غواړی ، که هغه امن ، وروولی ، خوشحالۍ ننګ غیرت یا دَ خپلې

www.pukhto.net



خاورې حفاظت ،ټیکنالوجی وی که شعروادب وی ۔ مونږ په هر لحاظ سره ځان کامل او تیار ساتل غواړو ۔

زه دلته دَ ځلمی شاعر لعل زاده ساګر دَ شعری مجموعې ” ګنډلې شونډې “ پحقله یو څو خبرې کول غواړم ۔

ساګر صیب چې دَ پلار نوم یې کشورخان (مرحوم) دے ۔ په قوم ترکانی سلیمان خیل دے ۔ دَ باجوړ ایجنسی تحصیل ماموند ترخونو مې کلی استوګنه کوی ۔ چونکه یو کور ئې په مردان کښې هم ؤو ۔ ساګر صیب دَ ضلع مردان په مصری آباد نومې کلی کښې دَ مارچ په دویمه نیټه کال 1981ء کښې زیږیدلے دے ۔ پرائمری او اتم پورې تعلیم یې دَ ترخو په سرکاری سکول کښې حاصل کړے دے ۔ لسم ئې دَ ګورنمنټ هائی سکول برخلوزو نه کړے دے ۔ دَ ګورنمنټ ډګری کالج خار نه ئې پرائیویټ دولسم او څوارلسم پاس کړے دے ۔ دَ ملاکنډ یونیورسټۍ نه یې په امتیازی نمبرو سره پرائیویټ ایم ۔ اے پښتو کړې ده ۔

دَ شاعرۍ اغاز یې دَ 1996ء نه کړے دے ۔ اولنۍ شعری

مجموعه ''سپرلے دَ مینې تصویرونه شیندی'' یې په کال 2004ء کښې او دویمه شعری مجموعه ''سپینې خبرې'' یې په کال 2007ء کښې چاپ شوی ده ۔ دا یې دریمه شعری مجموعه ده ۔

دَ باجوړ پښتو ادبی ټولنې غړے دے ۔ دَ ادب دَ ونې خدمت ډیر په اخلاص او روڼ تندی سره کوی ۔ ساګر صیب ډیر مینه ناک انسان دے ۔ هر وخت یې په مخ مسکا خوره وی ۔ یار باش دے په دوستانو ځان قربانوی ۔ دَ خلقو خدمت خپل فرض ګڼړی ۔ سپین نیتے دے په هر چا ړوند اعتماد کوی۔ له دغې کبله یې مالی زیانونه هم پورته کړی دی۔

ساګر صیب دَ شاعرۍ په ټولو اصنافو طبع ازمائی کړې ده ۔ غزل ، نظم ، لوبه ، سندره ، چاربیته ، بګتۍ، ګلیمرک ، آزاد نظم ، معرئ نظم او ټپه لیکی په هائیکو کښې خو ماسټر دے ۔

د باجوړ زمکه دَ ادب لپاره ډیره زرخیزه ثابت شوې ده ۔ دلته ډیر تکړه او کامل شاعران پیدا شوی دی ۔ که په تیر وخت کښې پښتو ژبې ته دې خاورې دَ فضل محمود





مخفی صیب ، عبدالمجید افغانی صیب او عبدالحلیم اثر صیب غوندې شاعران وربخښلی دی نو په اوس وخت کښې ئې دَ عبدالرشید رشید صیب ، باچا زاده حیران صیب، عبدالحق درد صیب ، اشنا باجوړی صیب او لعل زاده ساګر صیب غوندې شاعران هم دَ خپلې ژبې او ادب خدمت ته ملا تړلې ده ۔

ساګر صیب په دې شعری مجموعه ''ګنډلې شونډې'' کښې دَ وطن سره دَ غم ځپلی اولس سره خپله سوچه مینه ځائے په ځائے په شعرونو کښې ښکاره کړې ده ۔

دَ ''ښکلی وطن'' نومې نظم کښې څه داسې وائې :

دا جنت وطن مې په بمونو پېرزو نشی
دا ښکلی ځوانان مې په قتلونو پېرزو نشی
دا ننګیالے قوم مې په دردونو پېرزو نشی

دا سپیځلی خلق دَ غمونو په آمان کړې
دا ښکلے وطن خدایا دَ امن ګلستان کړې

دَ خپلې ژبې سره دَ مينې اظهار داسې کوي:

ستـــا دَ ليـونـۍ مينـې کـه زور نـه وے
دومـره بـه مـې نوم پـه دنيـا خور نـه وے

يـــامـــې تـــاسـره دا ظـلـم نــه ليـدے
يـا پـه دې وطـن کښـې زمـا کـور نـه وے

مـــابــه درتــه ټـول ژونـد وقف کـړے وے
غـم کـه دَ مـعـاش رابـانـدې سـور نـه وے

ساګـر صيـب لـه پـه عـملي ژوند کښې ډيرو خلقو دهوکې ورکړې دی نو ځکه يې په دې وينا مجبوره کړے دے.

سـاګـر پـه نـوم دَ دوستـۍ ډيـرو لـوټ کـړو
نـور بـه پــه چـا بـانـدې بـاور نـه کـوي

**يا**

هـغـه وخـت مـې زړه سـاګـره تـڼق وچـوی
چـرتـه چـې دوسـتـان راسـره بـد کـوي

www.pukhto.net



ساګـر صيـب ډيـر وړوکے ؤو چې په کال 1989ء کښې يې پـلار دَ دې فانی دنيا نه لاړو ـ هغه دَ خود داری لمنه پرې نه ښوده ـ پـه څلورم جـمـاعـت کښـې ؤو چـې لاهور تـه دَ مـزدورۍ لپاره لاړو ـ ساګر صيب دَ پنجاب په هر ښار کښې مـزدوری کـړې ده ـ دَ کشمير مختلفو ښارونو کښې ئې هم دَ غـمِ روزګـار پـه سلسلـه کښـې پـاتې شوې دے ـ هغه په هـوټـل کښې باروالی کړې ده ـ دَ بسونو په سټاپونو کښې ئې جـوس ټافيـانـې خـرڅـې کـړی دی ، په اوګه باندې يې چـپـلـې خـرڅـې کـړی دی ، ټاټکـی يې په سر وړی دی ، پـه ګـرځيـدو يـې چـشـمې هم خرڅې کړی دی ـ لکه دې شعر کښې دَ خپلې بې وسۍ او بې قدرۍ اظهار کړے دے ـ

شپاړسم پاس دوه کتابونه مې چاپ
ګرځم په روډ باندې چشمې خرڅوؤم

ساګرصيب دَ جبر او استبداد غندنه نيغ په نيغه کړې ده ـ دَ غم ځپـلـی اولـس تـرجمانی يې ښه په ډاګه کړې ده ـ چې څه ئې ليـدلـی دی او څه يې محسوس کړی دی ، دَ شعر ښکلے لباس

يې وراغوستے دے ۔ شاعري يې په ساده ژبه کښې ده خو اثر يې ډير ژور دے ۔ رجحان يې زيات مقصديت طرف ته دے ، ځکه يې شاعري په اولس کښې يو ځانګړې حيثيت لري ۔ شاعري يې دَ مصلحت ښکار نه ده ، بغير دَ څه دَ ويرې ترخې يې خپله مدعا لوستونکی ته وړاندې کړې ده۔ شاعري يې دَ طبقاتی نظام او معاشرتی ظلمونو خلاف دَ بغاوت اعلان دے ۔ ساګر صيب چې په معاشره کښې کړليچونه وينی ، دَ عام وګړی درديدلی حالاتو ته ګوری نو زړه يې ژاړی لکه وائې:

څومره ارزانه دَ انسان وينه توئيږی دلته
ښکلے وطن زمونږ ورانيږی دا دَ چادَ لاسه

دَ غم تکليف نه هر سړی ته جنازې پرتې دی
خفه زهير مړاوی ښکاريږی دا دَ چا دَ لاسه

ګرانه ګرانی۔ کښې ژوند کول دَ چا دَ وسې نه دی
هرڅه دَ اور په نرخ خرڅيږی دا دَ چا دَچالاسه



ملګری خو وائی چې ساګرصيب باقاعده (ريګولر) مينه نه ده کړې تولـه مينه ئې په قسطونه کښې کړې ده، خو بيا يې هم دَ مينې مضمونونه ډير په ښکلی انداز کښې تړلی دی يو شعر کښې وائی

جانان ويل ګيله مند ئم تا سره نه کوم خبرې
بيا پټ يې راله کيښودل لاسونه په لاسونو

يا دا

زما نوم نه پکښې ګل دَ ګلاب جوړ کړی
چې نکريزې لګوی په خپلو لاسو

ساګرصيب په شعرونو کښې ښکلی تشبيهات هم راوړی

مثلاً

وريځې په اسمان کښې وارخطا ښکاری
درد ته دَ زړګی زما حيرانې دی

ماته دې تندې ياره روڼ کړے دے
نن مې دَ ارمان سندرې ځوانې دی

يا

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

خـواره بـانــه ، پـریشانـه زلـفې اوکـاتــه دَ غـصب
بیـا پښتنو ښکاری خپل مینځ کښې انتشار کړے دے
ساګر صیب په ځنو ځایونو کښې دَ طنز ومزاح نه هم ښه کار
اخستے دے ۔ او دَ معاشرې په طبقاتی نظام ئې ګوزارونه کړی دی ۔

غـریب سره مالداره هروخت شرته مړنی دی
پـه خیتـه چې ماړه دی نـو نهر ته مړنی دی

دوی کـلـه لیندۍ کروزړ والا هیچرته راګیرنکړو
زمـونـږ پـولیـس والا خو کلیندړ ته مړنی دی
بل ځائے په یوه پیروډی کښې څه داسې وائی

جـوړیـږی هـر واکدارنه تل دَجال میرات مړے
لـری پـه حق وَهـنـه کښې کمال میرات مړے

راشـن ته په قطار کښې خان ملک چې کله وینم
ویم سم یې په شریکه کړو ګوښمال میرات مړے

www.pukhto.net



دې نه علاوه ساګر صیب په دې کتاب کښې دَ معاشرې هر
اړخ چیـړلے دے ۔ دَ مظـلومـې طبقې سره ئې دَ خپلې
همدردۍ اظهار کړے دے ۔
دَ ساګر صیب دَ شاعرۍ که هر اړخ لولی نو لوستونکی له
به مزه ورکوی ، او خپل مقصد هم ترې ترلاسه کولې شی۔
یقین لرم چې دَ ساګر صیب دا مجموعه به خپل مرام ترلاسه
کړی ۔ دَ لوستونکو تنده به ماته کړی ، لوستونکی به دَ خپلو
دردونو او ستونزو تصویرونه په دې مجموعه کښې اووینی ۔
هیـلـه لـرم چې مینه وال به دَ ساګر صیب دې کړاؤ ته په درنه
سترګه وګوری ۔ زما دعا ده چې خدائے پاک دې نورو شاعرانو
ملګرو له هم دَ ساګر صیب پشان توفیق ورکړی، چې خپله
شاعری دَ ملک وقوم دَ خدمت لپاره په کار راولی ۔ آمین ۔

**شیر جان ګرویده**

باجوړ پښتو ادبی کاروان

عنایت کلے باجوړ

20/06/2012

## ”د ادب ستورے“

دَ باجوړ سیمی یو ځوان فکر شاعر یو خوږ ژبے انسان چې زما دَ ادبی لارې ملګرے هم دے ۔ لعل زاده ساګر چې دَ مردان په مصری آباد کلی کښې یې سترګې غړولی دی ۔ نن سبا دَ باجوړ تحصیل ماموند په ترخو کلی کښې دَ ژوند شپې ورځې تیروی ۔

ساګر صیب چې هر څه وائی هغه کښې دَ هغه نفرت ، مینه ، دشمنی دَ جذبانو او احساساتو په رڼا کښې په صداقت شامله وی ۔ هغه کله هم دَ دروغو او منافقت نه دَ ژوند په لاره کښې ګټه نه ده پورته کړې ۔ ساګر صیب یو حقیقت پسند سوچ لری ، هم دغه وجه ده چې په دې معاشره کښې سره دَ شپاړسم ډګرئ بې روزګاره ګرځی ۔ دلته خو خلق په حقیقت سترګې پټوی ۔ دَ رشوت او شفارش زینه ړدی او په مخکښې ځی ۔ خو ساګر صیب په هغوی کښې نه دے ۔ په خپلو خدائے ورکړو نعمتونو شکر وباسی ۔ دَ ژوند چاروته یو ازاد ماحول غوره کوی ۔

www.pukhto.net



بناغلے دَ خپل روزګار سره سره دَ خپلې مورنۍ ژبې پښتو دَ خدمت لپاره ملاتړلې ده ۔ تر دې دمه یې دا دریمه شعری ګنه ده ، چې چاپ کیږی ، دَ اسمان دَ پلوشو نه دَ خپلې خاورې دَ وړمو نه دَ خپل قوم دَ بدې ورځی او نغمونه دَ الهام ژبې له توری راوړی ۔

د ساګر صیب فنی عمر خو دومره نه دے خو که دَ هغه دَ شعر ځنې اړخونه که مونږ اوګورو ، نو هغه دَ پښتو په زوړ او په نوی کلاسیکی ، اولسی ادب او طنز ومزاح باندې یې پوره طبع ازمائی کړې ده ۔ او تر ډیره حده کامیاب دے ۔ دَ ادب په لاره یې ډیر چټک ګامونه پورته کړی دی ۔ هغه ورځ لرې نه ده چې ساګر صیب به دَ پښتو ژبې په لویو شاعرانو کښې شمارلے کیږی ۔

تنقیدی نظر که دَ ساګر صیب په تخلیق وغورزوؤ ، نو دا ټهیک ده چې خامیانې به پکښې وی ،خو په اوړو کښې دَ مالګې برابر ۔ په دنیا کښې داسې یولیکوال هم ځوک په ګوته کولے نشی چې دَ هغه په لیک کښې به کمے نه وی۔

ساګر صیب پخپله وائی :

اوس خو دَ الفت په نوم آبادې دی
زه چې نه راځم دا کوځې ورانې دی

بدې ورځې تیرې به ساګره شی
ښې ورځې امید دے راروانې دی

راځی چې اوس دَ ساګر صیب دَ شاعرۍ څه نمونې وګورو ـ ښاغلے دَ معاشرې په هر اړخ ژور نظر لری ، دَ ملک وقوم سره دَ مینې اندازه یې دَ دې نه لګولے شو ، چې ارمان مې دا دے چې داسې څوک نشته چې دا خواران دَ ظالمانو نه خلاص کړی ، او هر طرفته خوشحالی شی ـ او دا ملک ګل وګلزار شی ـ شاعری یې انقلاب ته اشاره کوی ، دَ خدائے پاک نه سر لښکر غواړی ـ لکه وائی :

دا زخمی وطن اولس به څو پورې لوټلے شی
زړه کښې مې دردونه په چپو دی مظلومانو له

www.pukhto.net



داسې به ساګره دَ اولس وینه خرڅیږی څو
نشته څوک سزا ورکړی دَ ملک دې غدارانو له

نن سبا چې په پښتنو کوم جنګ په زور ورتپل شوے دے ، زمونږ مشران او بعضې خلق یې مرسته کوی ـ بې ګناه پښتانه پکښې مړه کیږی ، او زوریږی ، شاعر دلته دَ خپل قوم نه غافله نه دے ، خپل الهامی لهجه کښې داسې وائې

دَ مدعیانو پکښې نوک قدرې زخمی هم نه شو
ټول بې ګناه پکښې قتلیږی سم قیامت جوړ دے

دا واکداران خو دَ اته کوټو دننه ناست دی
وطن په مونږ باندې ورانیږی سم قیامت جوړ دے

ښاغلے هم لکه دَ نورو شاعرانو دَ مجازی مینې او دَ حسن پرست نظر خاوند دے ، او چُپ نشی پاتې کیدې ـ وائی :ـ

مستو سترګو کړم بیمار خوندونه اخلم
دَ مئین زړه بې قرار خوندونه اخلم

ښکلے یار راته په سرو شونډو مسکے دے
په خزان کښې دَ بهار خوندونه اخلم

بیا دلته شاعر دَ پښتنې مینې اظهار څه په دې ډول کوی

بیا په څه غصه یې راته اووایا
مانه که خفه یې راته اووایا

ستا مړو مړو کتو مې زړګے سوے دے
اوریې که لمبه یې راته اووایا

شاعر ته دَ خپل وطن ښکلا په دې حالاتو کښې ډیره پیکه پیکه ښکاری او ډیر په افسوس سره داسې وائی :۔

اوس په سپرلی او په اختر کښې مزه پاتې نه ده
ښکلی سحر او مازیګر کښې مزه پاتې نه ده

مونږه به دلته زخمی زړونو له ټکور ورکوؤ
پرهر پرهر شو پیښور کښې مزه پاتې نه ده

www.pukhto.net



زه په آخر کښې دَ ساګر صیب په دې شعرونو رخصت اخلم

رڼا دَ علم ورکړې په تعلیم یې برابر کړې
دا واړه هنر مند کړې خو صله او ضمیر ورکړې
خرابو عادتونو رواجونو نه یې لرې کړې

وطن اولس خدمت له مې په سمه لار روان کړې
دا ښکلے وطن خدایا دَ امن ګلستان کړې

په ډیره مینه او درنښت

**عبدالحق دردخلوزے**

صدر باجوړ پښتو ادبی ټولنه

26 جون 2012

## "د ساګر فن او د هغه فنی چاپیرچل"

وائی چې شعر دَ داخلی کیفیت خارج ته دَ اظهار د ټولو ژبو نه په زړه پوری او موثره ژبه او ذریعهٔ ده ـ هر څو که دَغه داخلی کیفیت دَ خارجی اسبابو ردِ عمل وی ـ

دَ ښاغلی لعل زاده ساګر دریمهٔ شعری ټولګه " ګنډلې شونډې " ستاسو په لاس کښی دے ، چی دَ هغه دَ ژوند په رنګینو او غمګینو حادثو، په قامی بې ارزو ، اولسی بې وسو او اجتماعی بې حِسو اډانه دے ـ دَ حیرت خبره دا ده چې دَ ښاغلی دَ فطرتی ظرافت خواږه څه داسی په هر ټکی کښی بریښی ، چه یوه بې ساخته مسکا په شونډو خوره کړی او یوی لمحی د پاره سړے دَ تریخ حقیقت نه هم محظوظ کړی ـ

دَ بدهٔ مرغه ښاغلی ته هیڅ قسمه تنقیدی او اصلاحی موقعی نه دی موجودی چی په اخلاص ئی فن دَ تنقید دَ ائینی نه تیر شی اوسر څنډه ئی اوکړے شی ـ په دغسی ماحول کښی داسی شعر لیکل هم ډیر لوئ هنر

www.pukhto.net



دے ـ لازم ګنم چی دَ ادب دَ ادنیٰ طالب علم په حیث دَ خپلې سیمې دَ هغه استاذانو نه ګیله اوکړم چې دَ ساګر صیب دَغه مسودهٔ ئی دَ میاشتې دَ کتلو نه پس هم بغیر دَ سریزی یا څه قِسم لیک نه هغوئ ته واپس کړه ـ زه په دی ویاړم چی دَ ساګر صیب په کتاب خپل تأثرات لیکم ، دَ ساګر صیب دَغه دریم تصنیف هم لکه دَ هغوئ دَ مخکښې چَاپ کتابونو په پښتو ادب کښی زړه راښکونکی او ګټه وره اضافهٔ ګنم ـ او هغوئی ته داد ورکوم چی په خپل لنډ تنګ معاش کښی هم دَ پښتو اداب ته دَ خپلې برخې پنګه ورکوی ـ هم دَ هغوئ په رنګ کښی هم دَ هغوئ په څو شعرونو درته هم دَ هغوئ پیژندګلو کوم ـ

ښاغلی په ادب کښی شپاړسم کړے دے ، نووائی

شپاړسم پاس دوه کتابونه مې چهاپ
ګرځم په روډ باندی چشمی خرځوم

ښاغلی په وطن کښې مسافر او په شته کور کښی دَ روزئ په تلاش کښی بې کوره دے ـ دَ وطن دَ مینی او دَ قامی

غربت دَغه ښائسته امتزاج څه داسې وائی :

منمه چې دَ مور او پلاره خوږ ئې خو مجبوریو
وطنه درنه زار ستا په لیدو پسې ړانده شو

مینه ئی څه داسی کړی :

زما نوم نه پکی ګل دَ ګلاب جوړ کړی
چې نکریزی لګوی په خپلو لاسو

دَ تیری لسیزی دَ تباهۍ دَ متاثرینو بنیادی ضرورتونه څه داسی په ګوته کوی ۔

دا به دَ لوږی مره شی
دوئ له ډوډی پکار ده
دوئ له پوشاک پکار دے
دوئ له کیږدئ پکار ده

دَ ښاغلی ساګر صیب دَ نور روښانه مستقبل او خوشاله ژوند په هیله دا تاسو او دا ساګر صیب ۔ په درناوی

**آشنا باجوړے**

28 جولائی 2012

www.pukhto.net



## مینه محبت دَ وطن خته کښی ابنکل غواړی

زه دَ عبدالحق درد ډیر مشکوریم ، چې هغه زما په حقله یو ډیر درونډ او ژور فکر لری ، ما باندې دَ دې خبرې پوره اعتماد لری ، چې رشید لالا باندی زه هر قسم خدمت واچوؤم ، انکار نه کوی ۔ الله رب العزت دې وکړی چې زه ئې دَ سوچ او فکر په معیار پوره وخیژم . حالانکه په دې وخت کښې زه دومره بیمارئم چې خپله تهوله توجه مې خپل ځان ته ده ۔ زما دَ ملا مورې خراب دی ، دَ هغې دَ لاسه زه ګرځیدې نشم ۔ تر دې چې جمات له مانځه له هم نشم تللے ۔ کور کښې هم مونځ په ناسته کوم ۔

ملګری راسره په موبائل خبرې کوی ، خله خو مې روغه ده ، خبرې صحیح کوم څوک نه وائې چې ګنې بیماردے۔

ماته درد صیب په ټیلی فون اووئیل ، چې زمونږ یو ملګرے لعل زاده ساګر کتاب چاپ کوی ، نو ته مهربانی وکړه په هغې لیکل وکړه ۔ ماترینه دَ کتاب مطالبه وکړه ، چې کتاب راولیږه ، نو بیا دَ هغې مطابق به زړه پوری

لیکل وکړم ـ هغه اوویل چې ماسره خو کتاب هم نشته ، درلیږلے یې هم نشم ، ځان سره ئې پیښور ته وړے دے ، په موبائیل یې یو څو شعرونه په مسیج کښې درلیږم ـ په دې به زه په حقیر فکر خپلو لوستونکو ته یو څو خبرې دَ لعل زاده ساګر په حقله وکړم ـ خپل دا مات ګډ شعرونه دَ ګرانو لوستونکو په خدمت کښې پیش کوم ـ

نن زما قلم پاڅی ساګر باندې لیکل غواړی
مینه محبت دَ وطن ختمه کښې اښکل غواړی

غم کښې خوشحالی ته رسیدل دَ ساګر فکر دے
کړے په ژړا کښې یې دَ طنزومزاح ذکر دے

ډیر زیات ژړیدلے کړیدلے خندیدل غواړی
مینه محبت دَ وطن ختمه کښې اښکل غواړی

مایې ډیر صفت دَ عبدالحق نه اوریدلے دے
وخت پکښې ډیر شوے ما پخپله هم لیدلے دے



دغه رنګ زلمی ځان خپل مرام ته رسول غواړی
مینه محبت دَ وطن ختمه کښې اښکل غواړی

دا دَ باجوړ دَ غیرتی قام غیرتی بچی
دا چی ننګ ناموس هم دَ پښتو په نوم ګټی بچی

لار دَ مستقبل دَ کامیابۍ دې ته ښودل غواړی
مینه محبت دَ وطن ختمه کښې اښکل غواړی

دې په ملک کښې امن غواړی مینه محبت غواړی
سُر غواړی ، سکون غواړی عزت غواړی راحت غواړی

خپل کور غواړی جوړ دَ نورو کور هم جوړول غواړی
مینه محبت دَ وطن ختمه کښې اښکل غواړی
په ډیره درنه مینه

**عبدالرشید رشید**

بانی باجوړ پښتو ادبی ټولنه حال مقیم رانا ټاؤن لاهور

29/06/2012

www.pukhto.net

## خپلې خبرې

خدائے پاک چې چاله کوم هنر او صلاحیت ورکړی نو پکار ده چې هغه دَ ملک وقوم دَ خدمت لپاره استعمال کړی . شعر وشاعری چونکه یوه قدرتی عصپه ده ، په دې کړکیچن حالاتو کښې دَ شاعرانو او ادیبانو فرض جوړیږی چې هغه دَ قوم صحیح لاربښودنه وکړی ـ او قوم اجتماعی ګټې طرفته مائیل کړی ـ په معاشره کښې چې کومې معاشرتی ، تهذیبی ، سماجی ، سیاسی ، او طبقاتی بدۍ دی ، دَ هغې نشاندهی وکړی ، او قوم سره دَ هغې بدو په ختمیدو کښې خپل بهترین فِکر استعمال کړی ـ

دَ نفرت ، حسد ، تعصب ، بدګمانۍ ، او منافقت جرړې وباسی ـ دَ اخلاص وصداقت ، محبت ، همدردۍ ، ورورولۍ ، حق غوښتنې او قومی وحدت لپاره په اولس کښې شعوروبیداری پیدا کړی ـ دَ خپلو سپیڅلو احساساتو او جذباتو په ذریعه اولس په سمه لار روان کړی ـ دَ ظلم غندنه وکړی ، دَ انصاف وخدمت ستائینه وکړی ـ



دَ انسانیت دَ خدمت او دَ مظلوم اولس دَ زخمونو دَ مرهم پټۍ په جذبه ستاسو په درانه حضور کښې زه خپل دا ادنیٰ کوشش دَ کتاب په شکل کښې وړاندې کوم ـ

زه دَ خپلو عزت مندو او درنو دوستانو ښاغلی عبدالحق درد صیب ، ښاغلی اشنا باجوړی صیب ، ښاغلی شیرجان ګرویده صیب ، ښاغلی عبدالرشید رشید صیب ډیره زیاته مننه کوم چې مونږ سره یې دَ کتاب په چاپ کیدو کښې هر قسم اصلاحی او اخلاقی مرستی وکړی ـ

هم دَ دې دوستانو مینه ده چې زما حوصلې یې ځوانې ساتلې دی ـ ماله ئې په هرقدم ډاډګیرنه راکړې ده ـ او دا دَ دوی پیرزوینې او قدردانی ده چې زه کله هم دَ دوی په مینځ کښې دَ احساس کمترۍ ښکار شوے نه یم ـ دا دوستان زما دَ ژوند قیمتی سرمایه ده ـ ډیرې خوشحالیانې او روښانه سباؤن ورته غواړم ـ

زه دَ ښاغلی حبیب الحسن یاد صیب ، ښاغلی سلطان یوسف سلطان صیب ، ښاغلی عبدالودود بادل صیب ،

Pukhto.Net

www.pukhto.net

ښاغلی قادر خان سیال صیب ، ښاغلی حبیب افغان صیب ، ښاغلی اجمل تنها صیب ، ښاغلی محمد خان باجوړی صیب ، ښاغلی انورزاده نګار صیب ، ښاغلی باچا زاده حیران صیب ، ښاغلی عمران ارمان صیب ، ښاغلی انور زاده ګلیار صیب ، ښاغلی جعفرخان جعفر صیب ، ښاغلی ناصر خان ناصر صیب ، ښاغلی رحمن الله ساحل صیب، ښاغلی څلان باجوړی صیب ، ښاغلی سبحان الله سبحان صیب ښاغلی طارق عزیز بینوا صیب ، ښاغلی رحمت الله محسن صیب ، ښاغلی اسماعیل سیار صیب ، او ښاغلی اسماعیل سائیان صیب ډیر احسان مند یم ، چې دَ خپل حق نه زیات عزت او درناوے یې راکړے دے ، په ادبی هلوزلو کښې ئې ماسره ډیر کړاؤنه ترسره کړی دی ، او لکه دَ سکه ورور ئې زه په ملا ټپولے یم ، ښې ورځې شپې ورته غواړم ، دَ هر قسم غم وتکلیف نه دې خدائے په امان کښې ساتی ـ

دَ خپل محترم او قدرمنو دوستانو ښاغلی محمد اعظم صیب ، ښاغلی حمیدالله صیب ، ښاغلی سعید عارف

www.pukhto.net



صیب ، ښاغلی عارفین بنوڅی صیب ډیر زیات مشکور یم ، چې دَ دې کتاب دَ چاپ کولو ټوله ذمه واری ئی په غاړه واخیسته ـ

دا دَ دې ښاغلو دَ پښتو ژبې او ادب سره دَ مینې اظهار دے ـ

او هیله لرم چې بیا لپاره به هم دوی دغه شان دَ پښتو ژبې او ادب خدمات جاری ساتی ـ

الله دې وکړی چې هر قسم کامیابی او بریالیتوب ئې نصیب شی ـ

ستاسو دَ عزت او خوشحالۍ نه ډک ژوند په طمع

**لعل زاده ساګر**

30 جون 2012

# غزل

نـکریزو باندې لیکی مې شعرونه په لاسونو
دَ نـوم نـه جـوړوی مـې یـارګـلـونه په لاسونو

شرنـګـا یـې دَ بـنـګـړو لـه تندرونو کمه نه ده
راوستـی یې دی چم کښې قیامتونه په لاسونو

زمـا دَ زړه قـاتـلـه رانـه څنګـه منکـریـږې
زمـا دَ ویـنـو شتـه دې نښـانونـه پـه لاسونو

شرابـو نـه انـکار به ورته څنګ وکړم ملګرو
پـخپـلـه ډکـوی چـې یـار جـامونه په لاسونو



جانـان ویـل ګیله مند یم تاسره نه کوم خبرې
بیـا پـټ یـې راله کیښودل لاسونه په لاسونو

په کړښو دَ لاسونو کښې پیدا مې نکړې یاره
څو ځله مې جوړ کړی دی زخمونه په لاسونو

چې بیا ئې ربه څه خبره زړه کښې ده راغلې
دَ بـام نـه یـې کـول اشـارتـونـه پـه لاسونو

دَ ښـکـلـو ښـکـلـو دې ادا سـاګره لیونی کړو
چـې کـلـه پټـوی رانـه مـخـونـه پـه لاسونو

راولپنډی7/06/2007

www.pukhto.net

## غزل

څه وکړم جانان راسره بد کوي
ډېردے په ماګران راسره بد کوي

تول عُمر يې نيمه لار کښې پرېښے يم
دا ښکلي ياران راسره بد کوي

تانه څه ګيله په زړه کښې نه لرم
خدايا ستا انسان راسره بد کوي

ما څه ناقرار مزاج مونډلے دے
خپل زړه پرېشان راسره بد کوي

ماد زړه حجره ورته پرانيستې ده
نه راځي مهمان راسره بد کوي

www.pukhto.net



سر زما دشمن ته ټيټول غواړي
دا خپل مشران راسره بد کوي

بيا يې سودا کړې ده زما په سر
تل خپل واکداران راسره بد کوي

دا وطن يې مونږ باندې دوزخ کړلو
تول جاګيرداران راسره بد کوي

هغه وخت مې زړه ساګره تق وچوي
چرته چې دوستان راسره بد کوي

باجوړ 16-8-2008

## غزل

سترګی دې څنګ کاګۀ واګۀ ګوری
بیا راله کار دَ ژوندانۀ ګوری

زړه چې په چا باندې مئین شی کله
هغه نه تور ګوری نه سرۀ ګوری

سترګې مې ستا سترګو ته څکه څیر شوې
پکښې زما ورک شوے زړۀ ګوری

ستا قدمونو کښې مې سر ایښے دے
ولې اسمان ته دې بانۀ ګوری



ډیره مزه کوی دَ کار ملګری
پښتون نظر مې پښتانۀ ګوری

ښه په اخلاص ورسره مینه کوؤم
څوک راله بد ګوری که ښۀ ګوری

ماستاد ځانه سره ځان یو کړے
ځان اوس په ځان کښې وایا څه ګوری

ساګـّره دا ئی دَ وفا نخښې دی
دَ رقیب مخکښې راته نه ګوری

باجوړ 25/8/08

www.pukhto.net

## غزل

چې کله یې رایاده شي نامه نو ژړا راشي
زخمونه دَ زړګي مې شي تازه نو ژړا راشي

زه هم پکښې دَ خپلې زړې مینې تصویر وینم
چې بل راته کوي خپله قیصه نو ژړا راشي

هم دلته کښې به هروخت نوې نوې تماشې وې
چې کله یې تیریږم په کوڅه نو ژړا راشي

چې نور قامونه څنګه خوش نصیبه دي دنیا کښې
چې وینم پښتانه خفه خفه نو ژړا راشي



قائیل زه په دوستۍ کښې دَ اخلاص وصداقت یم
مقصد چې دَ دې وګرځي پیسه نو ژړا راشي

اغیار دومره نران نه دي چې ما باندې برید اوکړي
دا خپل چې مې ور وراندې کړي اوګه نو ژړا راشي

فرعون راته خدائے پاک دے جوړ کړے دَ اغیار نه
چې مونږ کله مجبور کړي په سجده نو ژړا راشي

په خپل وطن کښې مخکښې خو زه داسې ساګر نۀ ووم
چې څوک مې مخ ته ونیسي آئینه نو ژړا راشي

ترخو باجوړ ـ 28/9/2007

www.pukhto.net

## غزل

دَ وفـا میـنـې ګـلـونـه سرِ عـام کـړه
دَ انسـان پـه هـر حـالـت کښې احترام کړه

مسـئـلې تـش پـه دعا هم نـه حل کیږي
دَ عـمـل کانړیز میدان کښې پورته ګام کړه

قـافـلـه کـه رَسول غـوارې مـنـزل تـه
د ځـوانـۍ خـوبـونـه ځان باندې حرام کړه

اتـلان سـاقـی لائـق دَ مـئـیـونـه دی
ورتـه ډک مـې دَ تـازه ویـنـو نـه جام کـړه

www.pukhto.net



دَ پـردی وطـن سـنـدرې بـه څـو وایـې
پـه هـنـر بـانـدې دا خپل وطن روم شام کړه

دَ اخـلاق وکـردار داسـې نـمـونـه شـه
چې دا نـور قـومـونـه تاسو تـه سلام کړه

دَ سامراج دا تالی څټ نیست ونابود کړه
ورک دَ دې خـاورې نـه دا جبری نظام کړه

سا ګـرجـانـه کـه نور هیڅ کولے نشې
بـاشعـوره باهمتـه دې خپـل قام کـړه

ترخو باجوړ 7/8/06

## غزل

نه مونږه غم چرته دَ ځان نه دَ جهان کړے دے
مونږه دَ دار په سر هم ذکر دَ جانان کړے دے

زمونږ دَ خوارو په قسمت کښې هډو ګټه نشته
مونږه دَ بل لپاره ټول عمر تاوان کړے دے

دا چې خراب یو مونږ دَ ننګ خبرې پرېښې ټولې
مدام مونږ ذکر دَ اوربل او دَ پېزوان کړے دے

ځوانۍ یې خاورې کړې بې ځایه شوک پرې رحم نکړی
په داسې حال کښې مې دَ چم پېغلوګذران کړے دے

ماخو دَ هر ښکلې په در باندې سجده ایښې ده
ما په دې خپل حسن پرست زړګی احسان کړے دے

www.pukhto.net



زه اوس دَ ښکلو په خویونو رسیدلے یمه
ما یې تعلیم دَ اداګانو په ښه شان کړے دے

مونږ دَ غدارو ظالمانو تل غندنه کړې
مونږه لیونو خو تل صفت دَ ښه انسان کړے دے

دا سپین لباس هم چې دا غټ غټ محلونه وینې
دی خلقو ټول عمر دَ بل په مال تالان کړے دے

دا چې ساګر یې درته وائی تیرې شوی دی پرې
دا چې وطن له یې دَ ښه واکدار ارمان کړے دے

ترخو باجوړ 27/9/08

# غزل

ستا دَ ګل ورين حسن په مينه وداني کوؤم
زه دَ دې چمن به په اخلاص نګهباني کوؤم

ستا دَ بنګلې شوکې که اسمان سره خبرې کړي
زه دَ ختهو ګټهو په جونګړه کښې خاني کوؤم

هسې نه غرور دې دَ ښکلا لمن داغداره کړي
دا يو نصيحت درته ګلابه زباني کوؤم

يولاس کښې تسپې دي په بل لاس کښې دَ شرابو جام
شيخه ته خو وائي زه سوچه مسلماني کوؤم

روغه دَ رقيب سره مې ستا په سترګو وکړله
زه هغه پښتون ئيم چې زر کاله دښمني کوؤم

www.pukhto.net



خيردے که په بده وی نامه مې خامخا اخله
زه خو څه رقيب نه ئيم چې تاته شيطاني کوؤم

ماته مشرانو نه ميراث دا پاتې شوے دے
ډک يم دَ پښتو نه حق لپاره من ماني کوؤم

هسې نه دَ ښکلو په نظر کښې بې اتباره شم
زه که يې والله په ترڅ کتو بدګماني کوؤم

ماسره ساګره دَ زخمی زړونو مرهم شته دے
زه دَ خلقو زړونو باندې تل حکمراني کوؤم

ترخو باجوړ 26/9/8

## سم قیامت جوړ دے

ګولۍ دَ توپو راوریږی سم قیامت جوړ دے
دلته په هر ځائے اوربلیږی سم قیامت جوړ دے

تنکی ګلونه ظالمانو راله اورژول
ماشومان وینو کښې پړقیږی سم قیامت جوړدے

دَ مدعیانو پکښې نوک قدرې زخمی هم نه شو
ټول بې ګناه پکښې قتلیږی سم قیامت جوړ دے

دادَ پښتون نسل کشی به خدایا کله بس شی
مالی ځانی نقصان یې کیږی سم قیامت جوړ دے



دا واکداران خو دَاته کوټو دننه ناست دی
وطن په مونږ باندې ورانیږی سم قیامت جوړ دے

څوک دَ اسلام او څوک دَ امن په نوم خوری ډالرې
ساده عوام مدام خرڅیږی سم قیامت جوړ دے

دَ ځان تپوس کولے نشی څه به حسه قوم دے
داسې به ټول عمر ډبیږی سم قیامت جوړ دے

دَ څه لپاره چا لپاره دا مرګ ژوبله کیږی
څوک په دې لوبه نه پوهیږی سم قیامت جوړ دے

www.pukhto.net

لکه مولۍ تیپر کټ کیږو اُف کولے نه شو
سیلاب دَ سرو وینو بهیږي سم قیامت جوړ دے

دا دَ روژې مبارک میاشت مو کړه لمبو کښې تیره
سحري ، افطار کښې توپ غړمبیږي سم قیامت جوړ دے

دَ خویندو ، میندو شرمیدو بدحال ته ګورمه چې
ساګره زړه زما ډوبیږي سم قیامت جوړ دے

ترخو باجوړ 23/9/08



## غزل

نن چې مې نظر ستا په جبین ولګیدهٔ
زړه مې لکه سم کرابین ولګیده

زړه خو زما ځوان دے لا دَ مینې حادِثو ته
خیر دے که په بریتو کښې مې سپین ولګیده

تاته چې مې اوکتل نو اوسوم سره لمبه شومه
نمر لکه دَ هار چې په ائین ولګیده

سترګې نرګسی شونډې دې سرې تورې دې زلفې
نن دې په سپین مخ سپرلے رنګین ولګیده

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

څنګ کښې دَ رقیب راته بې طمعې یار مسکے شو
سم رابانـدې خوږ لـکـه ګبیـن ولـګیـده

زیړ مازیګرے په شین اسمان کښې پیغلې وریځې
څـه رنګیـن بـازار دَ چیـن مـاچین ولګیده

شپـه دې شـو ګیـره کړه تنهائی ده جانان ژاړې
بـس یـې کـړه سـاګره ماسپښین ولګیدۀ

ترخو باجوړ 27/9/08



## غزل

نـوې هـتـکـړۍ اغیـارو راوړې بیا قیدیانو له
ورکـړۍ پـه شـدت سره جـواب دې ظالمانو له

پورې به په سترګو دَ غریب دَ کو څو خاورې کړم
ورکـړئ قیـمتـی رانجه زما په ځائے خانانو له

روح تـه تازګی هم سکون زړه ته به میلاؤ دې شی
وچـه کـړه خوله بیا خواری کښو مزدورانو له

دا دَ مستـقبـل معماران پاتې بې تعلیمه شو
ژوند به جوړوی څوک دې محرومه ماشومانو له

دا زخمی وطن اولس به څو پورې لوټلے شی
زړه کښې مې دردونه په چپو دې مظلومانو له

www.pukhto.net

وار خو دَ غریب دَ ترقۍ جرنده کښې نه راځي
وریې کړې زمونږ دَ خلو نونړۍ غټو مارغانو له

ټولو کړو دهوکه دَ مساواتو دَ اسلام په نوم
حق چارسولے په انصاف دے حقدارانو له

نورو تهذیبونو کښې یې خلق خپل پیشوا ګڼړی
دلته کوهی کښی شاعرانو ادیبانو له

داسې به ساګره دَ اولس وینه خرخیږی څو
نشته چې سزا ورکړی دَ مُلک دې غدارانو له

ترخو باجوړ ـ 5/10/08



## غزل

اوښکې مې دَ سترګو نه روانې دی
نورې مې دَ ژوند شپې ورځې ګرانې دی

وریځې په اسمان کښې وارخطا ښکاری
درد ته دَ زړګی زما حیرانې دی

چرته دَ دې کلی نه چې لاړ نشې
دا لارې کوڅې خو په تاخانې دی

سترګې پښتنې دې ماته نه ګوری
یا زما په مینه بدګمانې دی

www.pukhto.net

جوړې مې په زړه دَ غم تيارې شولې
زلفې دې پرتې په مخ پريشانې دی

سترګې دې زما اوښکو ته تيتې کړې
اوښکې زما څومره قدردانې دی

زړه يې زما قتل په چل ول کړلو
ستا ناز ادا ګانې قاتلانې دی

اوس خو دَ الفت په نوم آبادې دی
زه چې نه راځم بيا کوڅې ورانې دی



ماته دې تندې ياره روڼ کړې دې
نن مې دَ ارمان سندرې ځوانې دی

مه خوره قسمونه دروغژن اشنا
هسې ستا ګيلې راباندې ګرانې دی

بدې ورځې تيرې به ساګره شی
ښې ورځې اميد دې راروانې دی

ترخو باجوړ 9/10/08

www.pukhto.net

# ګیلې او فریاد

کوم خواته چې ګورې سره اورونه دي
وسوزیدل کلي دي که غرونه دي

خاندي ظالمان زمونږ په مرګ ژوبله
مونږ باندې اخستي يې خوندونه دي

دې وطن سره مينه کوؤ ډيره
ستا په زړه کښې هغسې شکونه دي

ته به دَ پښتون په مرګ کمزورے شي
پوهٔ شوې دَ اغيارو سازشونه دي



ته زمونږ په وينو غوښو موړ نشوې
لادې غوړولي نور دامونه دي

وژنې مې په نوم دَ دهشت ګرد باندې
تا هم خواره کړي دهشتونه دي

کوم جُرم دَ ښځو ماشومانو ؤو
کټ چانه ښيي لاس چانه سرونه دي

ويره دې په زړه کښې دَ الله نشته
چار چاپير دَ وينو سيلابونه دي

www.pukhto.net

مړه دې مظلومان په سړکونو کړه
دا دې کوم قانون کوم انصافونه دی

چاچې دا وطن اولس تباه کړلو
هغوله بنګلې هم انعامونه دی

تاسو یې په خپلو کښې خواره ورونه
تش دې مینځه ګړوته چلونه دی

هیڅ ضرورت نشته همدردۍ ته دی
مونږ باندې دې کړی فسادونه دی



ستا د لاسه ورک شولو هم سپک شولو
مونږ په سر خوړلی تا مالونه دی

غږ کولے نشې ظالمانو ته
مونږه ته تکړه دې لښکرونه دی

دا خو ستا بچی دی تا ساتلی دی
نن یې ستا ګریوان کښې چی لاسونه دی

بس کا په تا تول قوم پوئی شوے دے
چا لپاره دا مکروه کارونه دی

www.pukhto.net

وچّوسره ولې ته لامده سوزې
وایا چې دوی کړی کوم جرمونه دی

مونږ باندې بمونه راوریږی تل
ځکه مې شعرونه هم بمونه دی

امن خوشحالی په دې وطن راشی
دغه مې ساګره ارمانونه دی

ترخو باجوړ ۔ 30/9/08



## غزل

بیا په څه غصه یې راته اووایا
مانه که خفه یې راته اووایا

یادې ځان دَ قسته ناجانْ کړے دے
یا ډیره ساده یې راته اووایا

ستا مړو مړو کتو مې زړګے سوّے دے
اوریې که لمبه یې راته اووایا

تانه بغیر وخت به په ما تیر نشی
ژوند ته مې خطره یې راته اووایا

www.pukhto.net

وایا زه دې خوښ ئمه که نه ئمه
ته که پُښتنه یې راته اووایا

تاته سپوږمۍ ویل زه ستا توهین ګڼم
هرڅه نه ښائسته یې راته اووایا

زه ساګر به خیال کښې دې راځم که نا ؟
زړه کښې مې دیره یې راته اووایا

راولپنډۍ 18/12/08



# مزه پاتې نه ده

اوس په سپرلی او په اختر کښې مزه پاتې نه ده
ښکلی سحر او مازیګر کښې مزه پاتې نه ده

نه دَ سِتار سره منګې نه مستې جونه ښکاری
په چینارانو په ګودر کښې مزه پاتې نه ده

مونږه به دلته زخمی زړونو له ټکور ورکوؤ
پرهرپرهر شو پیښور کښې مزه پاتې نه ده

وفا، خلوص دَ صداقت مینې اوس سرخوړلے
چل ول نه ډک وی په دلبر کښې مزه پاتې نه ده

Pukhto.Net
www.pukhto.net

خپل خوږ وطن نن دَ دښمن نه خلاصولے نشي
آه ! دَ پښتون په لر او بر کښې مزه پاتې نه ده

سوات ، باجوړ اودَ مومند په ښائيست اوربليږي
وزيرستان او په خيبر کښې مزه پاتې نه ده

هغه مستيانې لوبې ټوقې او سيالونه ورک شو
په ښار او کلي ، سين او غر کښې مزه پاتې نه ده

غمژن ماحول دے ساګره پريشان مخونه
دَ ژوندانه هيڅ يو ډګر کښې مزه پاتې نه ده

فيصل آباد ۔ 22/12/08

www.pukhto.net



## دا د چا د لاسه

بې ګناه خلق چې قتليږي دا دَ چا دَ لاسه
تن نه سرونه جدا کيږي دا دَ چا دَ لاسه

څومره ارزانه دَ انسان وينه توئيږي دلته
ښکلے وطن زمونږ ورانيږي دا دَ چا دَ لاسه

دَ ستمګر خلاف خبره څوک کولے نشي
دا ټول دَ ويرې نه رپيږي دا دَ چا دَ لاسه

دې نمروديانو له خدايا يو خليل پيدا کړې
ظلمونه ورځ په ورځ زياتيږي دا دَ چا دَ لاسه

زمونږ حيا زمونږ عزت خوسرِ عام نيلام شو
زنانه لارو کښې شرميږي دا دَ چا دَ لاسه

ګنډلې شونډې دې زمونږ دَخاموشۍ په ستنه
خلې موخندا ته نه جوړيږي دا دَ چادَ لاسه

غله او ډاکوان راپاڅېدلي انقلاب غواړي
ټول خپل مفادو نه زاريږي دا دَ چا دَ لاسه

سړي خواره دي مونږه خوُري اوخلې هم نه پاکوي
دښمن په دې نيم نيم غټيږي دا دَ چا دَ لاسه

دَ کروړونو په بنګلو کښې به ئې ژوند کولو
اوس په تنبوانو کښې اوسيږي دا دَ چا دَ لاسه

شور غوغا جوړه ده هر کور کښې فريادونه خيژي
ماشومان مونږه ته ژړيږي دا دَ چا دَ لاسه



ګرانه ګرانۍ کښې ژوند کول دَ چا دَ وسې نه دي
هرڅه دَ اور په نرخ خرڅيږي دا دَ چا دَ لاسه

دَ چا تاوان دے اسکولونه کالجونه وران شو
په مدرسو بمونه لويږي دا دَ چادَ لاسه

هسپتالونو له دَ ويرې ډاکټران نه ورځي
زخميان زبيرګي کوي درديږي دا دَ چا دَ لاسه

وتلے نه شو نظر بند يو په خپل کور قيديان يو
ژوند مو په سرو لمبو تيريږي دا دَ چادَ لاسه

شوه په بارودو لوغړنه خوشبوداره فِضا
په غرونو ، بوټو اور بليږي دا دَ چا دَ لاسه

www.pukhto.net

دَ غم تکلیف نه هر سړی ته جنازې پرتې دی
خفه زهیر مړاوی ښکاریږی دا دَ چا دَ لاسه

په خپل وطن کښې مهاجر شو په خیمو کښې اوسی
واړه بچی ورته کړیږی دا دَ چا دَ لاسه

چاچې دَ دې وطن سکون ، امن ، فضا خراب کړه
خدایا کله به غرقیږی دا دَ چا دَ لاسه

دَ قوم ځلمی ځنګه بیدار کړم چې وطن آباد کړی
ساګره وَس مې نه رسیږی دا دَ چا دَ لاسه

ترخو باجوړ ، 30/9/08



## غزل

څه رنګین ښکلے هیواد دَ پښتنو دے
ډیر دردناک پکښې روداد دَ پښتنو دے

ټول جهان سرمایه دارو رنګ په رنګ کړو
دروغ وائی چې فساد دَ پښتنو دے

چې مدام پرې پښتنو شیندل سرونه
خدایا هغه نن جلاد دَ پښتنو دے

په دې خاوره هر غاصب ماتې خوړلې
ځان به غرق کړې دا اولاد دَ پښتنو دے

دَ پښتون په کور کښې اور به کله مړ شی
سپرلیئز وطن برباد دَ پښتنو دے

www.pukhto.net

خوېندې مېندې ماشومان يې راله مړۀ کړۀ
ژړا چغې آه فرياد دَ پښتنو دے

مرګ وژوبله شر فساد به ختم نه شي
غير قابض چې په جائيداد دَ پښتنو دے

يا يارانو له خلې بندې کړې ډالرو
يا کم شوے استعداد دَ پښتنو دے

دَ ظلمونو مخه نه نيسي ساګره
خنګ خاموش ابنِ زياد دَ پښتنو دے

ترخو باجوړ 5/2/09

www.pukhto.net



## غزل

دَ يار کچه کچه لوظونو باندې تيروتمه
زه يې دروغژنو قسمونو باندې تيروتمه

ماته به خوږ جانان دا خپل وطن کشمير کړې يو ځل
دَ نادان زړه په اوميدونو باندې تيروتمه

شيخ خو قسم دے په ساده کښې تيله دار وختو
زه يې تسپو سره مونځونو باندې تيروتمه

ټول يې لمبه کړم غرغنډه کړم دَ نفرت په اور کښې
ورسره لاس کښې دوه ګلونو باندې تيروتمه

څه ؤوم خبر چې به بدله کښې رانه ژوند اخلې
زه دَ اغيار په سوغاتونو باندې تيروتمه

ساقي جانان ته مې رقيب خدائيګو ډير څه منلي
زهر ونه ډک يې په جامونو باندې تيروتمه

زما پښتون او پښتونخوا خرابوي ساګره
پټ د ستانو کښې په لاسونو باندې تيروتمه

ترخو باجوړ 7/2/09



# ګران وطن ته

غزل ستا دَ کږو وږو کوڅو نه جوړؤم
ځوانی ستا دَ رنګينو پسرلو نه جوړؤم

ازغی به دَ حالاتو ما منزل نه ايسار نکړی
سندرې دَ سپرلی به حادثو نه جوړؤم

ځواني چې کومو پيغلو دَ وطن په ننګ لوګے کړه
بيرغ يې دَ رنګينو لوپټو نه جوړؤم

په زړه کښې چې يې درد وی دَ بې وسه مظلومانو
ملګری به دَ لارې دَ هغو نه جوړوم

بدل که دې زمونږه دَ بې برخو قسمت نکړو
رشتيا به ستا دَ دروغو دَ وعدو نه جوړؤم

www.pukhto.net

محنت ، ایمانداری او خود داری سبق به ورکړم
شاهین به دپښتون قام دَ بچو نه جوړؤم

پښتون ئمه پښتو کړمه پښتو ژبه به وائم
لیلیٰ دَ آزادی به دَ پښتو نه جوړؤم

ګلونه دَ کلتور به یې خړوب کړمه په وینو
کشمیر دَ پاکستان شاړو میرونه جوړؤم

وطنه ما ساګر ته په ژوندینی سم جنت یې
ژوندون به ستا دَ مینې پلوشو نه جوړؤم

ترخو باجوړ 9/2/09

www.pukhto.net



## غزل

ستا نرګسی سترګو زما په زړه ګوذار کړے دے
ستا محبت خو بندوبست راله دَ دار کړے دے

دَ خپل ژوندون اختیار مې تول درله درکړے ګرانه
جانانه مادربانډې دومره اعتبار کړے دے

دغه دے بریتو کښې مې سپین ډکی زرغون زرغون شو
مادې راتلو ته دَ مودې نه انتظار کړے دے

ستا دَ نازونو دَ شمارلو قیصه ګرانه نه ده
زما په زړه دې دَ زخمونو کله شمار کړے دے

خوارۀ بانۀ پریشانه زلفې او کاتۀ دَ غضب
بیا پښتنو ښکاری خپل منځ کښې انتشارکړے دے

زه چرته کال کښې ستا کوڅه باندې یو ځل تیریږم
ګمان مدام کلی زما په پاک کردار کړے دے

دَ زړۀ دَ وینو نه ساګره جوړوې شعرونه
دې نه سِوا دې په خپل ژوند کښې بل کوم کار کړے دے

ترخو باجوړ، 17/2/09



## اغیار

ځوانی دې راله اور کړه زندګی دې راله اور کړه
بې رحمه ستمګره خوشحالی دې راله اور کړه

تاویلې چې زما به دَ خوبونو ته تعبیر شې
جونګړه دَ ارمان دَ پسرلی دې راله اور کړه

زما امن پسند وطن دې ټول نفرت نفرت کړو
دَ مینی همدردۍ هغه خانی دې راله اور کړه

لمحه لمحه دَ ژوند دې راله ډکه کړه دَ غم نه
کلتور دې راله وسیزو مستی دې راله اور کړه

Pukhto.Net
www.pukhto.net

ګلونو ، په سندرو باندې خوږ وطن مې ښاد ؤو
دَ غرونو ګلدرو آرنګینی دې راله اور کړه

په ګلو په ښارونو باندې بلی دې لمبې کړې
اخلاص و میلمستیا پښتونولی دې راله اور کړه

شعرونه دَ ساګرؤ تول ګلونه مینه مینه
غزل مې لمبه ژن شو شاعری دې راله اور کړه

ترخو باجوړ 18/2/09



## غزل

چې یار دَ سرو شونډو نشته ورنکړی
زړه له قرار به میخانه ورنکړی

دَ ژوند ملګرې چې بیکار وی دَ چا
یو خوشحالی به هم مزه ورنکړی

رشتونی مینه په اتبار قائم وی
مینځ کښې دریم ګړې چې دهوکه ورنکړی

خپلو لاسونو کښې یې کار چې نه وی
جائز مقام به زمانه ورنکړی

www.pukhto.net

مادې په مینه کښې هرڅه لوګے کړۀ
دا قربانی به پروا نه ورنکړی

غریب وی هر وخت غم ښادی کښې ولاړ
مالدار به چاله یوه پیسه ورنکړی

ساګریې قدر په سر سترګو کوی
خیر که څوک مینه پښتنه ورنکړی

جهلم 10/6/09



## مسافره

ژوندون بغیر لتانه زما ګران دے مسافره
زړګے په تا پسې مې ډیر پریشان دے مسافره

خپل کلے خپل یاران درنه جوړ هیر شولو دلبره
که ناپه چاپسې دې زړګے وران دے مسافره

یادونه دَ وطن درنه ورک شوی رنګینو کښې
مستۍ او په مزو کښې دې ګذران دے مسافره

په مونږ باندې اغیارو خوږ وطن سور تنور کړے
په وینو باندې سور ټول ګلستان دے مسافره

www.pukhto.net

راځـه دَ زړګی سره اوس دا خپل وطن آباد کړه
ډیر عـمـر نــه پـردیـس په تاودان دے مسافره

دَ وخت فرعون هرڅه خپل مفادونه قربان کړۀ
کـه امـن دے سپـرلے دے که جانان دے مسافره

بـزدلــه مشـران دی څــه دا قــوم دے بې حسّــه
دا ځکه تنګ په مونږه ټول جهان دے مسافره

ساګره چې وطن کښې مې بیا امن خوشحالی شی
مودې نه مې په زړه کښې دا ارمان دے مسافره

جهلم ۔ 12/06/09



## غزل

زمـا یـار دے څـو مـره ښـکلے نن بـه راشـی
ښــکــلــو هم ښـکلے مـنلے نـن بــه راشـی

دومــره میـنـــه مــې ور کـــړې ده مـلـګـرو
پـــه بـل لــوری نشـی تـللے نـن بــه راشـی

مـازیګر ، سپرلی ، سپوږمۍ نه ډیر حسین دے
ډیــر نیــازبیــن دے نــازولے نـن بــه راشــی

پـــه یــو بــل بـانـدې بې شانــه خفــه کیږو
دَ رقیــب نـــه مــې ســاتلے نـن بــه راشــی

www.pukhto.net

نرګسي سترګو یې سم یم ستی کړے
په ځیګر یې یم ویشتلے نن به راشي

ښائیستونه یې شرمیږي دَ ښائیست نه
لکه ګل دے خندیدلے نن به راشي

دَ سحر نه یې ډیر سخت په انتظار ئیم
سوال جواب یې رالیږلے نن به راشي

خوشحالۍ نه که یې مړ شومه ساګره
ورته خون مې خپل بخښلے نن به راشي

جهلم ۱ 18/6/09



## اورونه

تا اورونه اوکړل که ما اورونه اوکړل
ځان چې ترې اوباسې نو بیا چا اورونه اوکړل

هغسې تازه ؤو دَ زاړه ګوذار زخمونه مې
دا پکښې لابله چې دې بیا اورونه اوکړل

دی کلی کوڅو کښې خو سندرې وې دَ مینې
دلته کوز په کور باندې چا دا اورونه اوکړل

کوم خوا ته چې ګورې نو سیلاب به وی دَ سرو وینو
چانه ګیله وکړو مسیحا اورونه اوکړل

www.pukhto.net

ختمه خوشبوئی شوه اوس لوګی دی دَ بارودو
دلته چا په قست که په خطا اورونه اوکرل

دې جنتی خاوره باندې امن سکون ورک شولو
دی مفادپرستو ډیر بلها اورونه اوکرل

خدایا انتقام ترې دَ دې ظلم یو په سل واخلې
خان دے که واکدار دے که مُلا اورونه اوکرل

ما وئیل ساګره دوی به مړ دا مصنوعی اور کړی
دوی پرې لا دَ پاسا هزارها اورونه اوکرل

ترخو باجوړ/ 29/9/08



## غزل

راځی لمبې دَ مینې مې په لورې دَ زړګی
ؤوځی مې ستا بانه پورې راپورې دَ زړګی

ماورته راوړے پسرلے دَ محبت دے
راشه ګل درې که زما ګورې دَ زړګی

سترګې مې رنډې ستا په فراق کښې په ژړا شولې
سترګې زما نشولې شمکورې دَ زړګی

ستا که دَ ځوانۍ په ګلستان باندې خزان راغے
مینه زما نشوله کمزورې دَ زړګی

Pukhto.Net
www.pukhto.net

دا ؤو ستا دَ مینې دَ شبنم په انتظار ولاړ
ولې ګلابونه زما زورې دَ زړګي

ستا هره ادا مې په سر سترګو قبول کړې ده
ته قربانئ غوارې چې مې نورې دَ زړګي

داسې راته بیرته په شا اوګوره چې غوړې شي
شونډې دَ پرهر دې زما سپورې دَ زړګي

یو ځل خپل ساګر ته دَ جانان په نظر اوګوره
چرته مې آزار نشي درپورې دَ زړګي

ترخو باجوړ 29/9/08



## اور دې پرې پورې شي

زه یې کړم ظلمونو لیونے اور دې پرې پورې شي
خپل مې زوروی او هم پردے اور دې پرې پورې شي

ماته پکښې نه ښکاری درمان دَ ژوبله زړه
راشی که په کلی مې سپرلے اور دې پرې پورې شي

دلته دَ اغیار په اشارو باندې ګډیږی ټول
یو پکښی پیدا نه شو سړے اور دې پرې پورې شي

مونږ یې دَ وعدو دَ ګلاب سوری ته دمه کوؤ
ناخلی چې ټکور پکښې زړګے اور دې پری پورې شي

www.pukhto.net

دا خپله پښتو به محبت ته کچه نکړمه
وائی چې په نه زړه هرکلے اور دې پرې پورې شی

دومره په محنت ایمانداری کښې هم ناکامه یَم
داسې که سپیره مې وی تندے اور دې پرې پوری شی

زه خو په تش لاس دَ نوی دور سره تلے نشم
یم که په خوی بوی کښې ازمرے اور دې پرې پوری شی

ترخو باجوړ ۔ 29/9/09



## بې قدری

کله خوشبو کله وړمې خرڅوؤم
ډکې دَ مینې گلدستې خرڅوؤم

دردونه اخلم دَ خندا په قیمت
دَ زړگی وینې او قطرې خرڅوؤم

چې دَ خراب به نه نور څه خراب شم
دا خپل ضمیر په دوه پیسې خرڅوؤم

شپاړسم پاس دوه کتابونه مې چاپ
گرځم په روډ باندې چشمې خرڅوؤم

ساگره غوږ مې څوک فریاد ته نه ږدی
زه دَ رندو ښار کښې آئینې خرڅوؤم

جهلم ۔ 19/4/2009

www.pukhto.net

# تپوس

په پاکستان کښې به تر کومې پورې چوی بمونه
دا کوم ظالم دے چې جمات کښې راته ږدی بمونه

واکداره ستا دې وی قسم چې ته یې نه پیژنې
څوک چې زمونږ ه په خوږ وطن کښې خلاصوی بمونه

زما په جیب کښې یو چاقو درته صفا ښکاریږی
هغه نیک نام دے چې موټر کښې وړی راوړی بمونه

دغه خودکش که مسلمان وی ترې پښتنه وکړئ
چاکړو مجبوره چې په ځان پورې تړی بمونه



دا وینې ولې مو توئیږی تپوس چانه وکړو
که په عوام که په فوجی مې راپاڅی بمونه

په کومه خُله ورته ساګره خپل خیرخوا اووائیم
ډالر لپاره چې په مونږ راغورزوی بمونه

فیصل آباد ۲۰/۱۲/۲۰۰۹

www.pukhto.net

# دا ولې

مونږ ته ګمان څوک دَ بشر نه کوی
دنیا زمونږ په حال نظر نه کوی

مونږه په مړو ، جنازو سترې شو
اوس دی وطن کښې څوک اختر نه کوی

په وینو سرې دې لوپټې دَ پیغلو
مازیګری چې په ګودر نه کوی

اغیار دې خپل کور چاپیریال اصلاح کړی
زمونږ په خاوره دې نور شر نه کوی



عاصب دې خپلې خوشحالیانې یوسی
دلته دې نور دَ ظلم کر نه کوی

چې دَ پښتون قربانی نه قبلیږی
چاله دې جنګ چاله لښکر نه کوی

مونږ ورله وینې بې حسابه ورکړې
دَ آزادۍ بوټے ثمر نه کوی

دَ پښتون وینه دومره سپکه شوله
اوس واکدارانو له ډالر نه کوی

www.pukhto.net

دیوال شریک ورور دې خپل نیّت سم کړی
تل دې ګیلې دَ بل په سر نه کوی

یاروے ریبار ته زه یې زړه کښې اوسم
زما تپوس دې در په در نه کوی

ساګر په نوم دَ دوستۍ ډیرو لوټ کړو
نور به په چا باندې باور نه کوی

ترخو باجوړ ، 6/2/2011



## غزل

غم دَ جانان هم دَ دوران لرمه
ژوند کښې مې رنګ په رنګ داستان لرمه

چرته مغرور په خپل محبوب چې نشې
زه هم دَ ګل پشان جانان لرمه

دا چې کامیاب ئم ښه خوشحاله ئمه
څنګ کښې خواږه درانه دوستان لرمه

زړه دې ګټلے په سوچه مینه شم
دومره یقین مې په خپل ځان لرمه

www.pukhto.net

دَ ښکلو حسن ته چې نه تینګیږم
ځمه انسان نفس شیطان لرمه

چا چې خلوص لره احترام راکړے
سرومال هر وخت ترې قربان لرمه

که عزت مند ځم خپل کمال مې نه دے
دَ پاک الله فضل واحسان لرمه

ساګره راشه بادشاهی پرې کوه
دَ زړه جهان مې ښه وډان لرمه

ډیره اسماعیل خان / 18/7/2011



## غزل

نرۍ سترګې توروی په خپلو لاسو
ښکاری نن مې قتلوی په خپلو لاسو

زمانوم نه پکښې ګل دَ ګلاب جوړ کړي
چې نکریزې لګوی په خپلو لاسو

رقیبان مې دې بیا مړ کړي اجازت دے
که جانان مې ښخوی په خپلو لاسو

چرته ځان باندې مئینه نشی خدایا
ځان شیشه کښې سازوی په خپلو لاسو

www.pukhto.net

خدایا دا ارمان مې یو ځله پوره کړې
چې سحر مې پاڅوی په خپلو لاسو

دا مالی به دَ باغ څه حفاظت اوکړی
چې ګلان ترې شوکوی په خپلو لاسو

ښه دَ قسته مې ساګره په ژړا کړی
بیا مې اوښکې پاکوی په خپلو لاسو

ګجرات :۲۰۱۲ــ۲ــ۲

www.pukhto.net



## پښتو ژبه

ستا دَ لیونۍ مینې که زور نه وے
دومره به مې نوم په دنیا خور نه وے

ما به درله څنه ګوته کړې وے
ستا قدردانی که یو پیغور نه وے

یا مې تاسره دا ظلم نه لیدے
یا چې دې وطن کښې زما کور نه وے

ما به درته ټول ژوند وقف کړے وے
فکر دَ معاش راباندې سور نه وے

ګوته په خله تاته به حیران وؤ تهٔول
ستا په نوم ښاغلے یار که چور نه وے

ستا دَ مینې قدر که ئې کړے وے
مخ به دَ بې پته جانان تور نه وے

ته که ئې منزل ته رسولې وے
زړه به مې دَ دې خلقو نه تور نه وے

نن که یې پښتو راتینګه کړے وے
بل به دَ ساګر په زړګی اور نه وے

ترخو باجوړ ۲۲/۸/۲۰۰۸



## غزل

لکه پښتون یې دښمنی نکړله
دغه رقیب خو ښکاری نه سړے وؤ

مانه جدایې په تږګی کړلو یار
زما دَ کور زما دَ زړه سړے وؤ

دوستی کردار ئې وؤ سپیڅلی دواړه
په یوه ژبه یوه خله سړے وؤ

چې تورو خاورو کښې بندی شمه زه
خلق به وائی ساګر ښه سړے وؤ

www.pukhto.net

## غزل

دَ ښه کيدلو هډو نوم ناخلی
ډير علاجونه مې دَ زړه اوکړه

اوس يې دَ بدو څه حساب نشته
چې کوم سړی سره ماښه اوکړه

بې وفا خلقو راله زړه پوخ کړے
دا اسويلی چې مې ساړه اوکړه

يو مونږ دَ چانه فائده وانه خيسته
خلقو په ژوند کښې ډير ډير څه اوکړه

13/08/2008

www.pukhto.net



## غزل

نن بيا يې ليونو غوندې کانې راخيستی دی
جانان په سپينه خله باندې ګيلې راخيستی دی

بيا ستا په سر مې جنګ دَ رقيبانو سره کړے
په وينو مې ککړې سرې جامې راخيستی دی

مره مره کتل دَ سترګو خمارونه شرابونه
که نه چا دَ مستۍ ډکې پيالې راخيستی دی

يارانو څوڅو ځله په ښکاره سترګو دهوکه کړم
تقدير که خود عرضو دا پيښې راخيستی دی

اوس ته زمانه یاره لرې لرې ولې ګرځی
دنیاراسره ستا په سر لانجې راخیستی دی

په هر سړی یقین کوی زما ساده ساګره
پخپله دې خپل زړه سره نخرې راخیستی دی

لاهور .13/07/2007

www.pukhto.net



## سازش

سازش چې کله ما او کله تاته جوړوی
اغیارهسې په مونږ پسې خندا ته جوړوی

دَ دوی کامیابیدو له مونږ شپه ورځ په ځان یو کړې
دَ دروغو منصوبې ولې بیا ماته جوړوی

ګڼ کپ سړے به غلا، هم بې ایمانی رانه اونکړی
دا څنګه مشران دی چې مونږ غلا ته جوړوی

آخر به مونږه دوی په بغاوت باندې مجبور کړی
دَ سپی او پیشو لوبه چې هر خوا ته جوړوی

ساګره باجوړیه بس دے اوس خو دې څه ورکړی
غریب به آخر کله دوی دعا ته جوړوی

مردان / 14/04/2010

# پیروډي

په وهلو مې څپلۍ کړو ما ویل نه یې پښتون هسې
جانان فرش له راخطا کړم زما مات شو زنګون هسې

نن دَ یار دیدن له تلمه دا چې نن دَ اتوار ورځ ده
دَ یار پلار ووٸم پَره کړے په پټو کښې پرون هسې

چې څټې یې لکه مالګه ته شوده غوا نه راکاږه
پګړۍ شی به دې ښه پاکه چې وانخلې صابون هسې

ما په مینه کښې سیزلی زوړ واسکټ او څپلۍ دواړه
په پِتی تهوپک بې ولم چا که یاد کړو مجنون هسې

ماسره دومره دولت دے په نسوارو نه ختمیږی
خوار پړق ووُ مُردار شوے په نیستۍ کښې قارون هسې

www.pukhto.net



کپړې تاله به کړم جوړې زوړ څادر نه غریبی ده
نن اخستے مې دے تاله په کباړ کښې پتلون هسې

شهزاده یې تخلص دے ناست وے لری ته میله کښې
تاخوړلو ښه په خوند خو ماله راغے ګرځون هسې

غږ دبلے وائی ریډیو ته او سائیکل ته جولا ګاډے
شرنګ سوتے وائی سِتار ته هسپتال ته روغتون هسې

غم کچه کړمه ساګره چې چرګان او پولاؤ اوخرم
چرس دَ سور لپاره څښمه خوار شی خورمه معجون هسې

فیصل آباد ۔ 04/05/07

## ښکلي

ښکلي سپک مه ګڼه بدذات خو نه دي
غوښه چاول څه دَ خيرات خو نه دي

تش په ځکلو څه کمېږي خو نه
سپينه کوګۍ دې ياره شات خو نه دي

په يو هندو بت خيله نه ورانيږي
ته که خفه شوې ښکلي قات خو نه دي

خير که ځواني شوله دَ ښکلو پيکه
اوس هم ډير ښه دي څه ميرات خو نه دي



يار هسې نورو سره لين واخيستو
ما پرې کم کړې مراعات خو نه دي

اوس هم څلور ښکلي پاللے شمه
دومره خراب زما حالات خو نه دي

سپينه پسته خله يې څو ځل راکړې
ساګره دا څه الزامات خو نه دي

فيصل آباد ، 14/08/2008

www.pukhto.net

## پیروډي

اخره زمانه شوله روپو ته غاړیو ځم
مجبوره یم دَ خان صاحب چمچو ته غاړیو ځم

په ویښه که یریږم دَ اګۍ دَ ډز نه خیر دے
په خوب کښې کله کله ازمرو ته غاړیو ځم

دَ اوس وخت خوراکونو دَ هر چا خیټې کړې غټې
ځه! اوس به په بازار کښې بوسارو ته غاړیو ځم

غمونو دَ جانان او څه ګرمۍ ئمه وهلے
دا ځکه دَ شوملو ډکو لوټو ته غاړیو ځم



ترسکون غوښه چې اوخرم نودیدن یې رانه هیر شی
مجنون نه ئم چې زه دَ لیلیٰ سپو ته غاړیو ځم

زمونږه په قسمت کښې خو دَ کار ملګری نشته
ترڅو به زه تش پانړو هندوانو ته غاړیو ځم

حلوه نه زما ډیره راځی مینه په لوټونو
مُلا نه ئم چې ټول عمر ډوډو ته غاړیو ځم

خدایا ما ساګر له خو یو شپاړس ځامن راکړې
کوڅو کښې به تر څو پردو بچو ته غاړیو ځم

راولپنډی ـ 14/08/2007

www.pukhto.net

## پیروډي

جوړېږي هر واکدار نه تل دجال میرات مړے
لری په حق وهنه کښې کمال میرات مړے

اوړهٔ ، غوړي او تیل چینې وتلې اخیستو نه
اتیاروپو ته اورسیدل دال میرات مړے

سل ګون دې بیاموندلے ایزی لوډ پری ماته اوکړه
په دې کښې مړه نشته وبال میرات مړے

منمه چې کنجوس یې ټیلی فون کولے نشی
کوه کله ناکله یو مِس کال میرات مړے



ترلی سپی نه خدائیګو یو پوتے هم نه یریږم
لرم بهادری، کښې لوئ مثال میرات مړے

راشن ته په قطار کښې خان ، ملک چې کله وینم
ویم سم یې په شریکه کړو ګوښمال میرات مړے

خفه شم دَ پیشو نه راته جوړ چې ازمرے شی
بل خوا مې کو څه ډب دے انډیوال میرات مړے

ساګره دَ سیزن مالونه ټول راته پراته دی
رائحئ دَ بارانه چې وکړو سوال میرات مړے

فیصل آباد ، 20/02/2009

Pukhto.Net

www.pukhto.net

## پیروډي

دا چې په کشی نه پوهېږي آخر چرګ دے کنه
کور کښې غاوره ګرځېږي آخر چرګ دے کنه

اګی وې چرګې له ورغلی سخته ده باندې وی
ورسره دا هم سم کړتېږي اخر چرګ دے کنه

کوټې لا څه چې په حجره کښې ئې پرتې وی سوټې
زما دَ لاسه به خړېږي آخر چرګ دے کنه



چې ورته ګورمه دا چرګ عاشق مزاج غوندے دے
لاره کښې چرګو ته اودرېږي اخر چرګ دے کنه

یو من دانې که وې پرتې بل ورته کله پرېږدی
لکه مالداره نه مړیږي اخر چرګ دے کنه

دَ فارمی چرګانو بیخ ساګره خلقو ویستو
یو ورځ به دا هم حلالېږي آخر چرګ دے کنه

پیښور، 21/3/2008

www.pukhto.net

## مړنی دی

غریب سره مالداره هروخت شر ته مړنی دی
په خیټه چې ماړه دی نو نهر ته مړنی دی

دوی کله لینډ کروز والا هیچرته راګیرنکړو
زمونږ پولیس والا خو کلینډر ته مړنی دی

په دریمه ورځ اکثر وینی سرکار دَ روژې میاشت
روژه خو یوه نه نیسی اختر ته مړنی دی

دا ځنې نارینه جنګ کښې وهل خوری تل دَ بل نه
په کور کښې بې غیرته خپل ټبر ته مړنی دی



دا ځنې استاذان شاګردان نشی پوی کولې
دوی هسې په لانجو کښې هیډ ماسټر ته مړنی دی

دهلی او کلکته کښې چا پټهاس قدری خلاص نکړو
بې ډبه دهشت ګرد مې پیښور ته مړنی دی

مالونه دَ عوامو افسرانو اوخوړل
افسر ته څوک څه نه وائی نوکر ته مړنی دی

ساګره باجوړیه لیډران څومره مخلص دی
عوام یې ټول دنیا کړه دوی ډالر ته مړنی دی

14/06/2010

www.pukhto.net

## ګرانه باجوړه

فِضا دې لوغړنه په بارودو خړه خړه
دا چا کړې دَ نظره په ماګرانه باجوړه

(۱)

دَ ختهوګتهو کلی دی چاپیره ترې دنګ غرونه
هوایې مزیداره زړه راښکونکی منظرونه

چینې به بهیدلې ګودرونو کښې اختر وُو
رنګین مازیګرے وُو ښکاریدل به شنه فصلونه

ګپونه وُو نشې وې تماشې وې مسخرې وې
زلمی به پکښې ناست وُو اوس شاړ شوی شنه ډبونه

مستی وه رنګینی وه ورورولی وه محبت وُو
اخلاص وصداقت وُو دلته نه وُو نفرتونه

www.pukhto.net



دا چادې سپرلېزوطن ته راوړله جګړه
دا چا کړی دَ نظره په ماګرانه باجوړه

(۲)

دا هغه ننګیالی دی چې دی رنګ په پښتو نواله
ساده شډل بډل دی خو تهول ډک دی دَ کماله

مغل که فیرنګے دے سکندر یې هم شړلے
دشمن یې زغلولے دے په تبر په کداله

اخلاص که میلمستیا ده هم میئن په سرِیتوب دی
مالدار پکښې مزې کړی هم غریب پکښې خوشحاله

اسلام وپه پښتو باندې دَ سرومال نه تیر دی
سپیڅلی کردارونه ده دوستی یې لازواله

جرګې او ننواتې هم میئن دي دا په تره
دا چا کړې دَ نظره په ما ګرانه باجوړه

(۳)

جنت جنت وطنه چا دَ لاسه دوزخې شوې
جاهل مفاد پرستو له بې ځایه قربانۍ شوی

په ټوله پښتونخوا کښې ته دَ امن ګلستان وې
په مینځ دَ ظالمانو کښې سلګۍ سلګۍ زخمي شوې

په نوم دَ ترخه ګرو جابرانو رنګ په رنګ کړې
دا ولې دَ سامراج لپاره دومره تاوانی شوی

نو ټهونو هضمولو له دا لوبه ګرمه شوې
قسم دے دَ غیرت او دَ ننګونو نه خالي شوې

لمبو ته چې زه ګورم خیژی زړه نه مې لوخړه
دا چا کړې دَ نظره په ما ګرانه باجوړه



(۴)

جوړ شوے قتلِ عام هر ځائے بمونه راخلاصیږی
که کلي دی که غرونه سره اورونه پرې بلیږی

زمونږه خویندې مېندې کوڅو لارو کښې شرمیږی
تباه یې ماشومان کړۀ زنانه پکښې قتلیږی

لاسونه چانه ښپې دَ چانه غوڅ شولو سرونه
پرهر پرهر وجود یې خپلو وینو کښې پړقیږی

ساګره بې امنی ده دَ قیامت پشان غوغاده
شرارے دَ ګولو دے جهازونه هم غریږی

سړک دے که کوڅه ده په سرو وینو ده ککړه
دا چا کړې دَ نظره په ما ګرانه باجوړه

باجوړ 28/08/2008

www.pukhto.net

## ښکلے وطن

خدایا پـه انصاف او مساواتو یې ودان کړې
دا ښکلے وطن خدایا دَ امن ګلستان کړې

(۱)

دا جنت وطن مې په بمونو پیرزو نشی
دا ښکلی ځوانان مې په قتلونو پیرزو نشی
دا ننګیالے قام مې په دردونو پیرزو نشی

دا سپیڅلې خلق دَ غمونو په آمان کړې
دا ښکلے وطن خدایا دَ امن ګلستان کړې

(۲)

بلوچ که پښتانه یو که سندهیان او پنجابیان یو
مونږ دَ دې وطن یو مونږه ټول پاکستانیان یو
یوبل نه زاریږو مونږ دَ یو بل نه قربان یو



خپلو کښې یو ورونه مونږ دَ یو بل قدردان کړې
دا ښکلے وطن خدایا دَ امن ګلستان کړې

(۳)

رڼا دَ علم ورکړې په تعلیم یې برابر کړې
دا واړه هنر مند کړې حوصله او ضمیر ورکړې
خرابو عادتونو رواجونه یې لر کړې

وطن اولس خدمت له یې په سمه لار روان کړې
دا ښکلے وطن خدایا دَ امن ګلستان کړې

(۴)

چې وی ښه پاک کرداره دَ اولس کوی خدمت
خیر خوا دی دَ عوامو خوروی چې محبت
دَ زړه نه خفه کیږی دَ وطن په نوم عزت

www.pukhto.net

بیا داسې مشران خدایا زمونږه واکداران کړې
دا ښکلے وطن خدایا دَ امن گلستان کړې

(۵)

خدایا مونږ نه لرې کړې دا رنگ رنگ عذابونه
خدایا نور مې ختم کړې وطن کښې عذابونه
خدایا نور ناکام کړې دَ اغیارو سازشونه

خدایا په اولس نور تکلیفونه مې اسان کړې
دا ښکلے وطن خدایا دَ امن گلستان کړې



(٦)

دا زمونږ وطن په خوشحالو باندې آباد کړې
مونږه طاقتور په ایمان ، نظم ، اتحاد کړې
وائی باجوړے ساگر دشمن زمونږ برباد کړې

دې تهوله دنیا کښې مې سرلوړے پاکستان کړې
دا ښکلے وطن خدایا دَ امن گلستان کړې

ترخو باجوړ / 14/8/2011

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

## ننګیالے سپاهی

شم چې په وطن قربان سل ځله تیار ئیمه
زه یم ننګیالے سپاهی ستاسو خدمتګار ئیمه

(۱)

پت ئیمه ښیګړه یم ، فخر ئیمه ننګ ئیمه
زه دَ وطن مینه کښې ، مست ئیمه ملنګ ئیمه
زه دَ قام بدخوا سره ، ټول عمر په جنګ ئیمه

مرګ دَ شهید غوارم په ژوندینی دې شاندار ئیمه
زه یم ننګیالے سپاهی ستاسو خدمت ګار ئیمه

(۲)

زه به محافظ مدام ، قام دَ مال وحال ئیمه
غم کښې به غمژن ئیم ، په ښادۍ به ئې خوشحال ئیمه
مینه ئیم مظلوم لره ، ظلم لره ډال ئیمه

www.pukhto.net



خود به مې عزت کوی زه یې تابعدار ئیمه
زه یم ننګیالے سپاهی ستاسو خدمتګار ئیمه

(۳)

قهریم دشمن لره ، چغه دَ غیرت ئیمه
امن ورورولی غوارم ، زیرے دَ وحدت ئیمه
زه یم دَ وطن خیرخوا ، ټینګ په اخوت ئیمه

ستاسو به عزت کوؤم ستاسو به غم خوار ئیمه
زه ئیم ننګیالے سپاهی ستاسو خدمتګار ئیمه

(۴)

دا جنتی خاوره به خلاصه دَ خفګانه کړم
زه به ښه کردار باندې ، دا وطن روښانه کړم
فخر به په ما کوی زه به تل مړانه کړم

زه به بې لوظی نه کوم تل به وفادار ئیمه
زه ئیم ننګیالے سپاهی ، ستاسو خدمتګار ئیمه

(۵)

وینه مې غورځنګ کوی جوش لرم جذبه لرم
درونـد استـقـامت لـرم ، لـویـه حوصله لرم
زه ئـم مسـلـمـان زلـمـے ، کـلـکـه عقیده لـرم

ګـل ئـمـه دَ دې خاورې ، دې باندې ګلزار ئمه
زه ئم ننګیالے سپاهی ستاسو خدمتګار ئمه

(۶)

دا ښـکـلـے وطـن زمـونـږ دا آبادول غـواړی
امـن تـرقـیٔ ګلان ، دی باغ کښې کرل غواړی
بیا دَ خوشحالیٔ سپرلی ، دلته غوړول غواړی

ستـاسـو بـاجـوړے ساګر ستاسو وطن دار ئمه
زه ئم ننګیالے سپاهی ستاسو خدمت ګار ئمه

ترخو باجوړ/ 1-1-2011

www.pukhto.net



## کالج

څـو پـورې بـه ګـرځـی صیب زمـونـږ نـه مـرور
خـدایـا دې کـالـج تـه کـړې لږ پـام دَ مـنسـتـر

(۱)

دلتـه خو ړومبے ؤو ډیر ښائیسته بلډنګ ولاړ
ګوره اوس کالج ته چې جوړ شوې ترې کباړ
تـه چې یې غم نکړې دا بـه نور هم شی ویجاړ

دلتـه بـه کـړی بیـا خـلـق تینډی تمـاتـر
خـدایـا دې کـالـج تـه کـړی لږ پـام دَ مـنسـتـر

(۲)

مونږه ځان لپاره نوکریانې ستانه نه غواړو
مونږه داسې نورې ترقیانې ستانه نه غواړو
مونږه دې نه زیاتې خوشحالیانې ستانه نه غواړو

دا یـوه اداره کـړه بـس دې قـام لـه بـرابـر
خـدایـا دې کـالـج تـه کـړې لږ پـام دَ مـنسـتـر

(۳)

اوګوره دې هـال تـه پـه لـوګـو چې لوغړن ښکاری
دا لـکـه نـاکـام عـاشـق خفـه غـمژن غمژن ښکاری
ښه ځوانه ځوانی کښې بد نصیبه چې خیرن ښکاری

دا هـم پـه خپـل وخت کښې ؤو نیازبین ډیر بختور
خـدایـا دې کـالـج تـه کـړې لږ پـام دَ مـنسټـر

(۴)

اووه سوه سټوډنټس لپاره دلتـه درې کمرې دی
دلتـه دې کـالـج کښـې بـلهـا نـورې مسئلې دی
بیا یې هم دَ سټاپ و سټوډنټس ځوانې حوصلې دی

کـلـه خـو راوالـګـوه دلتـه یـو چـکـر
خـدایـا دې کـالـج تـه کـړی لږ پـام دَ مـنسټـر

www.pukhto.net



(۵)

سټـا دَ چپ لاس کـار دے دا کـالـج آبـادولے شی
دا دَ قـام بـچـی تـه خپـل منزل تـه رسولے شی
مـړه یـو زور بـس خـو دې کـالـج تـه ورکولے شې

ګپ ګـورې اونـه ګښـې خبـرې دَ سـاګـر
خـدایـا دې کـالـج تـه کـړی لږ پـام دَ مـنسټـر

ترخو باجوړ ، 15/4/2012

## (هاتو موټر) 14 ماډل

دَ دې نــــه خــو دا ښـــــه وه چــلــولــې دې ټټـو
اخستــې پـــه کشتــونــو دې مــلــګــريـــه هــاټو

(۱)

ليټــونـــه قتــى پتــى کتــاره شـــان يــې ټيرونـــه
سرې پکښې تخنيږى کندې کوندې يې سيټونه
څوک چې پکښې لاړ شى کئى هډوکى يې دردونه

ځوانۍ کښې يې برکت شه دې همزولې دَ بهټو
اخستــې پـــه کشتــونــو دې مــلــګــريـــه هــاټو

(۲)

شيشې يې قوالى کئ چړائى کښې چې روان وى
ديکو باندې ستاټيږى اکثر لاره کښې به وران وى
ليدو سره ترې تښتى ماشومان ترې په لړزان وى

www.pukhto.net



چې کومه ګټه اوکړى خورى يې بيرته دا خيټو
اخستــې پـــه کشتــونــو دې مــلــګــريـــه هــاټو

(۳)

په لاره چې روان وى نو کوى سم پشتوپړى
باډى ته چې يې ګورې چيته پيته وى چقړى
کوى ډير فريادونه ته وې خيټه کښې ګړبړى

بريک چې کله اونيسى شى تاؤ لکه لاټو
اخستــې پـــه کشتــونــو دې مــلــګــريـــه هــاټو

(۴)

محفل کښې ته په قره باندې وائى لرم ګاډے
دى ګاډى ته دې ګورم نو ښکاريږى سم خادړے
ګوره ډرائيور ته يې چې ناست وى پکښې شاړے

سر دَ ډرائيور پکښې ښکاريږى سم چټو
اخستــې پـــه کشتــونــو دې مــلــګــريـــه هــاټو

(۵)

ورږی سپږی څه چې چیچل کئ پکښې لړم
اخستے پـه پیسو دې برنا حقه ځان لـه غم
خدائے دې کړه ایمانه سره خلاص دَ دې تم تم

په ځینو یې لیکلی وی مستریانو له ګټو
اخستے په کشتونو دې ملګریه هاتو

(٦)

چوکونو هسپتال کښې دا ببرسرته ولاړې
خله دې پړاقه کړی وی وهې غټې رمباړې
غورږونه خورې دَ خلقو ماتوې دې په چا داړې

جوړ کړے دې بازار کښې په سورلو دی یو ټانټو
اخستے په کشتونو دې ملګریه هاتو

www.pukhto.net



(۷)

بخت دے راویښ شوے دَ مستریانو زما روره
ګټه خوې نشته پیسې خورې پسې دَ کوره
وائی باجوړے ساګر څو ګرځې به بې سوره

سوال درته کوؤمه خرڅ دې کا دا چشماټو
اخستے په کشتونو دې ملګریه هاتو

08/05/2007

## منسټر

مونږه په خپل ؤوټ دَ قوم فروشه نه جوړ پلار کړو
خر مونږه پخپله دَ وربشو څوکیدار کړو

(۱)

ؤوټ چې رانه غواړي وائی تاسو زمونږ وورنه یې
ټولې مسئلې به درله حل کړو زمونږ زړونه یې
تاسو معماران دَ دې وطن تاسو ګلونه یې

مونږه ځان دَ دوی په دروغژنو وعدو خوار کړو
خرمونږه پخپله دَ وربشو څوکیدار کړو

(۲)

خر هم هغه زوړ دے بدل شوې خالی کته ده
مونږ له یې راکړې همیشه په زړه کښې لته ده
خوری دَ قام مالونه لوی وړوکی ته دا پته ده

www.pukhto.net



هغه غل ډاکو شو چې په چا مو اعتبار کړو
خر مونږه پخپله دَ وربشو څوکیدار کړو

(۳)

دا زمونږه خیال ؤو چې به ختمه مهنګائی کړی
اوړه ، تیل به ارزان کړی هم ارزانه به چینی کړی
جنګ جدل به نه وی دوی به امن خوشحالی کړی

دوئ دهشت ګردی په نامه جوړ لوی کاروبار کړو
خر مونږه په خپله دَ وربشو څوکیدار کړو

(۴)

چاچې دې وطن لپاره وینې تویولی دی
چاچې دې وطن له ځوانی خپلې سوزولی دی
هغه اتلان دوی په زندان کښې اچولی دی

کوم دے چې غدار په دې وطن کښې چا سنګسار کړو
خر مونږه پخپله دَ وربشو څوکیدار کړو

(۵)

عدل نه قانون شته په غریب باندې ظلمونه دی
قتل دے ډاکې دی خودکشیانې دی بمونه دی
هرخوا لوږې تندې فریادونه تکلیفونه دی

دې حکمرانانو پردے غم په مونږ انبار کړو
خر مونږه پخپله دَ وربشو څوکیدار کړو

(۶)

دا مفاد پرست لیډران خدایا شرمنده کړې ته
دا ضمیر فروش خدایا په خپل قهر میده کړې ته
خدایا دَ ساګر دا ارمانونه خو پوره کړې ته

دوی زمونږ دَ ښکلی وطن امن تار په تار کړو
خر مونږه پخپله دَ وربشو څوکیدار کړو

24/10/2008

www.pukhto.net



## ایم ۔ این ۔ اے

اوس ناست وی لینډکروزر کښې ژوند نه اخلی ښه خوندونه
هم دا هغه ممبر دے چې ورکړی مونږ ووټونه

(۱)

چې کله ممبران شی ترینه جوړ شی بیا پیریان
ګورې به دَ صیب خالی اخبار کښې تصویران
یا به تیلی وژن کښې کوی صفت دَ ځان

لګیا وی چې حلقه کښې مې زرهاؤ وکړه سیکمونه
هم دا هغه ممبر دے چې ورکړی مونږ وؤټونه

(۲)

پټیری درنه هلته چې ورپیښ شې په دفتر
نوکر به درته وائی صیب وتلے دے بهر
چې میټنګ نه فارغ شی سبا راشه مازیګر

صاحب دننه ناست وی ګوری ډش باندې فلمونه
هم دا هغه ممبر دے چې ورکړی مونږ ووټونه

(٣)

پشان دَ لوئ بادشاه دفتر کښې ناست وی غټ افسر
که غواړې دَ ځان خیر په زوره بیرته نکړی وَر
وائی چپړاسی ته به حاجی صیب ، جی ، او سر

مراد به دې سرنشی چې یې ډک نکړی جیبونه
هم دا هغه ممبر دے چې ورکړی مونږ ووټونه

(۴)

دا خیټه یې حرامو او رشوت وی پړسولی
مرکز نه یې فنډونه دَ خلقې په نوم خوړلی
چې ورې مسئله ورله چا تهول یې راشړلی

وائی څه مړه زمونږ په سر پراته دی نور غمونه
هم دا هغه ممبر دے چی ورکړی مونږ ووټونه

www.pukhto.net



(۵)

ببییانې لرې کور کښې دا حاجی صیب درې ځلور
اخستے یې وی تهاؤن کښې ځانله ځانله ورله کور
ولاړ وی لینډ کروزر ورته یو سپین ښکلے بل تور

بینکونو کښې بیلنس لری لکونه کروړونه
هم دا هغه ممبر دے چې ورکړی مونږ ووټونه

(٦)

صاحب خوری دَ روټۍ سره پستې کله بادام
سپرائټ ، پیپسی ، ډیو او کله څښی شراب په جام
دَ دوی وربانډې څه دَ ولړې مړه شی که عوام

پبلک کوی فضول احتجاجونه فریادونه
هم دا هغه ممبر دے چې ورکړی مونږ ووټونه

(۷)

کپړې دَ امریکې وی دَ اټلی یې وی بوټان
پتلون به یې دَ فرانس وی ښکلے کوټ یې دَ جاپان
ګهړی دَ سویزرلینډ وی موبائیل دَ انګلستان

راغواړی صیب اسټریلیا نه دَ میک اپ سامانونه
هم دا هغه ممبر دے چې ورکړی مونږ ووټونه

(۸)

زمونږه خو دا خیال وؤ دوی به راوړی قام له ګټه
قام خو یې ګوزار کړو په رښا ورځې دَ ختټه
دوی خو دَ عوامو په هر څه کښې ویسته سټه

دوی خو په آرام دی مونږ له یې وکتل شرمونه
هم دا هغه ممبر دے چې ورکړی مونږ ووټونه

www.pukhto.net



عوامو خبردارشئ چې بیا ورنکړئ ووټونه
راځی به عاجزۍ کښې ترینه واړوئ مخونه
دَ دغه ګیدړانو بس هم دادی علاجونه

ساګره باجوړیه پرې نازل شه عذابونه
هم دا هغه ممبر دے چې ورکړی مونږ ؤوټونه

17/07/2006

## متاثرين

يوه وعده به وکړو — يوه اراده به وکړو
خير او خدمت لپاره — يو فيصله به وکړو

دا خلق امن غواړي — دوی خپل منزل غواړي
يو عزت مند مقام ته — دا رَسول غواړي

متاثرين لپاره — به نيکنامی جوړؤو
دې غمزه پلو له به — ښه زندګی جوړؤو

دادی محتاجه خلق — دَ دوی تعظيم پکار دے
دَ دوی بچو لپاره — روزګار تعليم پکار دے

دا به دَ لوږې مړه شي — دوی له روټیٔ پکار ده
دوی له پوشاک پکار دے — دوی له کيږدیٔ پکار ده



شو يې کورونه تباه — زمکې باغونه تباه
مال مويشی ئی غرق شو — هم روزګارونه تباه

دا دَ غيرت نه ډک ؤو — دا دَ عزت نه ډک ؤو
په خپل وطن مئين وؤ — دَ محبت نه ډک وؤ

په ورورولئ مئين وؤ — په سادګیٔ مئين وؤ
دا ميلمه دوسته خلق — په خود داریٔ مئين وؤ

دا ښه خوشحاله وؤ ټول — نه چې بدحاله وؤ ټول
ښه خواری کښه وؤ ټول — ښه باکماله ؤو ټول

دوی له آسره ورکړئ — دَ ژوند جذبه ورکړئ
ښه تسلی يې وکړئ — هم حوصله ورکړئ

www.pukhto.net

دَ غم چپو اووهل  دَ دوی کارونه حل کړئ
انسانیت په خاطر  یې تکلیفونه حل کړئ

ډیر دردیدلې دی دا  ډیر کړیدلی دی دا
دوی ته حق اورسوئ  ډیر غم زپلی دی دا

پیکا پیکا ژوندون کښې  ورله خوندونه کیږدئ
په پرهرونو ورله  لږ مرهمونه کیږدئ

راځئ چې یو موټے شو  خپلو کښې ورونه یو ټول
دَ ګران اوښکلی وطن  دَ باغ ګلونه یو ټول

دَ ګل پشان ملګرو  په ساګر ګران ملګرو
راځئ چې بیا آباد کړو  خپل پاکستان ملګرو

ډی آئی خان ـ 27/05/2011

www.pukhto.net



## قطعات

دَ ګلاب پشان تازه دا ستا ځوانی شه
زندګی دې دَ غمونو نه خالی شه

خوشحالی او روغ صحت دې خدائے نصیب کړه
په دنیا کښې دې پوره هره سیالی شه

★★★

نرمې نرمې شونډې خماری سترګې
ښکلے یې بدن داسې انسان لرم

چرته خپل دلبر باندې مغرور نشې
پاؤ پاؤ اننګو والا جانان لرم

★★★

## قطعات

مینه کښې به زه شمه قربان دَ ښکلو ښکلو
ما پشان به وی ډیر قدردان دَ ښکلو ښکلو

ماله یې عزت او ډیر شهرت راکړو ساګره
ځان باندې منمه ډیر احسان دَ ښکلو ښکلو

★★★

زما دعا ده دَ غمونو نه جانانه خلاص شی
خدائے دې دَ ټولو بیمارو نه په آمان کښې ساته

ترو تازه لکه ګلاب چې راته خاندې مدام
ځوانی دې خدائے دَ رژیدو نه په آمان کښې ساته

★★★



## قطعات

حق دَ محبت که راله راکړې شکریه به وی
ورکې شه خبرې زمونږ مینه دَ کتو به وی

بې څه دَ لالچه دَ یو بل نه زاریدل به وی
رنګ به وی نشې به وی مستی به وی پښتو به وی

★★★

اے دَ جانان مینې دا ته څه کوې
اوباسم توبې خو بیا یې ماتې کړم

ماته مې جانان په جار وئیلی دی
دا کلے کوڅې به درنه پاتې کړم

★★★

www.pukhto.net

## قطعات

هر سړی لوټلے ئم ټولو دردولے ئم
دې بې وفا خلقو نه پوزې له راغلے ئم

چا باندې يقين وکړم خيژی دَ نستونړی مار
هرسړی له زړه ورکوم نن چې سرخوړلے ئم

★★★

هرچانه ښکلے نازولے دلربا دے زما
دا چې کاڼه راته راګوری وارخطا دے زما

هغه چې زه ورته سائل دَ باجوړ وائمه
هغه بل څوک نه دے ساګره خپل اشنا[1] دے زما

★★★

(۱) اشنا باجوړے

www.pukhto.net



## قطعات

دَ مينی تور باندې بدنام خو مې کا
لکه خوشبو خور سرِ عام خو مې کا

دمه مې کړه دَ زلفو يخ سيوری ته
دا ستړے زړه لږ په آرام خو مې کا

★★★

منمه چې دَ مورو پلار نه خوږ يې خو مجبور يو
وطنه درنه زار ستا په ليدو پسې ړانده شو

څه مونږ خو ګناهګاريو دَ نور کلی څه ګناه ده
ياران وائی ډير وخت نه خوشحالو پسې ړانده شو

★★★

## قطعات

محترم دے څو روپۍ یې دی ګټلی
دا چې نن دے خان لالا په غور څنګونو

علاقه کښې دې ثانی نشته دے ساګره
تخیل دے خانه ستا په غور څنګونو

★★★

دلته قتلونه دی غمونه دی دردونه اور دے
پکښې تنګ شوے یم له دی کلی نه ښېې اوباسم

ماخوپرون خوار شې دَ دې نشې مزه اخیستې
شیخه نن څنګه دَ شرابو نه توبې اوباسم

★★★

Pukhto.Net



## درې شعرونه

لاس به وانخلمه ستا دَ یارانې نه
نه به منع شم په ژوند دَ میخانې نه

چې قاتل او مقتول دواړه ناخبر وی
تل آمان غواړه دَ داسې زمانې نه

خپل غمونه به سرۀ زر درته ښکاره شی
که خبر شولې زما دَ افسانې نه

★★★

څوک به زما دا مات زړګے جوړ کړی
عشق دَ سړی نه لیونے جوړ کړی

کاړه واړه کاته دَ مړاؤ سترګو
کله خزان کله سپرلے جوړ کړی

په سپین رخسار چې راخورې کړی زلفې
په مازیګر کښې ماښامے جوړ کړی

Pukhto.Net

www.pukhto.net

## درې شعرونه

دَ خپل وطن پولو پټو پسې مې زړه خفه دے
په دنګو غرونو ګلدرو پسې مې زړه خفه دے

پيغلې ګودر ته شاه زلمی به تلل دَ لوبو ځائے ته
خمار کښې ډوب مازيګرو پسې مې زړه خفه دے

ماته ياديږی دَ يارانو ګپ شپ ټوقې مستی
هغه محفل هغه حجرو پسې مې زړه خفه دے

★★★

دومره څوک نشته دے چې مونږ سره لږ ښه خو وکړی
بې دَ لالچه مو مرهم دَ زخمی زړه خو وکړی

دا شر جوړ شوے دَ پښتون دَ ذلالت لپاره
دومره لږ فکر دې ګريوان کښې پښتانه خو وکړی

بې کوره کيږو هم مړه کيږو بيا بدنام ولې يو
زمونږ بد حال ته دې دنيا مثبت کاته خو وکړی

www.pukhto.net



## شعرونه

زه ناز اداګانو دَ جانان ليونے کړے يَم
پروت يې په سرکو شونډو پيزوان ليونے کړے يَم

★★★

دا چې سپيره او سپک دنيا کښې ګرځو
دَ کار ملګری مو قسمت کښې نشته

★★★

عاشق نشه شی دَ محبوب دَ مخ کتلو باندې
زه نشه کيږمه په يو چونډی نسوارو باندې

★★★

ضد پښتو مه کوه جانانه تاسره خوند نه کوی
چې مرور ګرځې زمانه تاسره خوند نه کوی

★★★

روژه اختر نه يې مزه دَ پسرلی وی
غريب په خپل وطن کښې پرديسی وی

★★★

## شعرونه

زه دَ وصل یو نعمت اوبه اوبه کړم
څه به اوکړمه عیشونه په جنت کښې
★★★
جنت که دې مقصد وې دَ خدائے دین ولټوه
جانان پسې بیا بیا دَ زړه آئین ولټوه
★★★
تش دیدن ته یې پرې نه ښودم محفل کښې
ماشوم یار ناصحه ګوره څومره شوم دے
★★★
ما چې درې څلور ټکرې اوخوړې
اوس دَ مشرانو تابعدار شومه
★★★
دومره دلۓ دلۓ غمونه مې په زړه پراته دي
لکه چې زګ وی جمع شوے سمندر دَ پاسه
★★★
بې ایمان مې همسفر دَ ژوندانه کړل
ما پردی غمونه کور ته راستانه کړل
★★★



## چاربیته

چاته به کوم جانان جانان ، شی زندګی به زما ګرانه
جانانه ته که رانه لاړی ، زړه به مې وچوی دَ خفګانه

(۱)

شته دی خطونه تصویرونه ، ما ژړوی دی هریادګار
یادوؤم ستا دَ ناز خبرې ، لوظنامې هغه اقرار
په ماخوره به مدهوشی شوه ، چې ته به شین شوې دَ خندانه
جانانه ته که رانه لاړی ، زړه به مې وچوی دَ خفګانه

(۲)

په دې غمژن کلی کښې څه دی ، زما خوتاته ورځې شپې وې
مابه فریادکولو تاته ، زما په زړه به چې ګیلې وې
تنهادې پریښودم په ډاګه ، شومه په ژوند باندې ستومانه
جانانه ته که رانه لاړی ، زړه به مې وچوی دَ خفګانه

www.pukhto.net

(٣)

ګلزار دَ مینې مې تالا شو ، راغے دَ غم سپیره خزان
زه خو دې کړمه بې آرامه ، څنګ تیروومه به هجران
زما په هره ساه کښې ته یې ، زما امید زما ارمانه
جانانه ته که رانه لاړې ، زړه به مې وچوی دَ خفګانه

(٤)

ځمه پخپله غریونیولے ، اوښکې چې تاله وچوؤمه
زما په برخه اسویلی شو ، اوس په سرخاورې بادؤمه
که دا په وَس کښې دَ ساګروے ، جدا کیدے نشوې زمانه
جانانه ته که رانه لاړې، زړه به مې وچوی دَ خفګانه

باجوړ ـ 14/08/2005

www.pukhto.net



## لـوبه

ښکلی خندا دې ایتهم بم دے
زه دې مړو کتو لیونے کړمه
مئین زړګے مې دړسې کوی دردونه
چرته لاړې

(١)

دې راتـه اووئیل دا څه کے
نه کوؤم یاری ته خواری مکړه
خوار شې دَ ځان سره ښه نه کے
مینه دے انکار بیا زاری مکړه
غریب سړے څه کوه دې خپل کارونه
چرته لاړې

(٢)

ماورته اووئیل چې مرمه
مینه کښې دی زه ګرفتار شومه
رنګ مې زیړیړی شوم بې دمه
نور دَ ژوندانه نه بیزار شومه

مُلا له ځم په تا کوؤمه تعویزونه

چرته لاړې

(۳)

دې راته اووئيل ماشوم يې

اوس دې څه همت نه څه زور شته دے

شوله مسکۍ ويل نامعلوم يې

پته دې دَ قام نه دَ کور شته دے

زه په ناشنا پښتنو نه کوم اتبارونه

چرته لاړې

(۴)

ماوئيل مينه کے پوهيږم

ته چې شجرې اړوې جينۍ

ترخو ماموندو کښې اوسيږم

ته که باجوړ ته راتلې جينۍ

دَ لعل زاده ساګر به وکړی تپوسونه

چرته لاړې

جهلم ۔ 10/05/2005

www.pukhto.net



## بګتۍ

ښکلې يې سترګې راروانه ړنګه بنګه ده

توره غنم رنګه ده

(۱)

ښکلى بانه شونډې لعلونه

زړه مې کوى پسې دردونه

غواړي دَ مينې يې خيرونه

توره غنم رنګه ده

پسې ملنګ ځم هغه ماپسې ملنګه ده

توره غنم رنګه ده

(۲)

پسې کړيږم ډير بى شانه

ماته ده ښکلى دَ هر چانه

قربان يې شم نازو ادا نه

توره غنم رنګه ده

په مينه پويه ده ښائيسته لا چې لونګه ده

توره غنم رنګه ده

(٣)

په مینه ګوري اشارې کړي
ماسوزوي مسته نخرې کړي
کله خندا کله ګیلې کړي
توره غنم رنګه ده
په ما اختر ډے نن راغلے مې ترڅنګه ده
توره غنم رنګه ده

(۴)

په ما قربان دَ سرومال ده
زه ترې خوشحال مانه خوشحال ده
ساګره ډکه دَ کمال ده
توره غنم رنګه ده
زما دَ تیراو پاتې شوی عُمر پنګه ده
توره غنم رنګه ده



## سندره

ستا دَ مړو سترګو کتنه ډیره ګرانه شوه
خبر نه شوم چې دا ولې زمونږ ورانه شوه
ستا دَ مړو

(١)

نیمه خواه دې نیمه لار کښې ځان له پریښودم
دَ غمونو په انګار کښې دې ورکیښودم
زندګی مې دَ خطرو ډکه جانانه شوه
ستا دَ مړو

(٢)

راته وایا کوم ظالم یې لمسولې ته
چې په مخه مې تیریږی غلې غلې ته
ته چې لاړې دنیا مانه پښیمانه شوه
ستا دَ مړو

www.pukhto.net

(۳)

ستا غمونو دے ورک کړے دَ شپې خوب زما
تلـو سـودې تبـاه کـړے ځـلمیتـوب زمـا
دَ زړګـی دنیـا مـې ډکـه دَ خفـګانـه شوه
ستا دَ مړو

(۴)

راشـه راشـه نـوره خپـلـه ضد پښتو پریـږده
دا خـویـونـه دا عـادت دَ لیـونـو پـریـږده
مـاسـاګـر تـه رامعلومـه ستـا مـړانـه شوه
ستا دَ مړو

★★★★★★★
★★★★
★★★
★

www.pukhto.net



## سـنـدره

ځوانی مې سپیلنے کړله ، زړګے می سوزولے
چې زه به ډیر مئین یمه ، که ته به یې ډیر ښکلے

(۱)

درځی چې ستا په لوری ، خیالونه مې شی شل
خوبونه بې قرار دی ، آرمان مې دے پاګل

زما دَ کردار فصل خو دَ غم شیبې وهلے
چې زه به ډیر مئین یمه ، که ته به یې ډیر ښکلے

(۲)

ته خانده خوشحالیږه ، دے ماباندې قیامت
په اور کښې اوسیدل دی ، وفا او محبت

په شان دَ لیونو ئمه ، ګریوان مې دے شلیدلے
چی زه به ډیر مئین ئمه ، که ته به ئی ډیر ښکلے

Pukhto.Net

(۳)

په ځان باندې مئینه ، مغرور یې په ښکلا
دردونه انتظار ، په برخه دی زما

زما دَ زړه دَ باغ نه دَ مستۍ ګل شو کیدلے
چې زه به ډیر مئین ئمه ، که ته به یې ډیر ښکلے

(۴)

خیالونه په لیمو کښې ، ګرځومه ستا تصویر
مرهم مې دَ زړګی یې ، دَ مینی مې جاګیر

ساګر باجوړې پریښے ، تا لپاره کور او کلے
چې زه به ډیر مئین ئمه که ته به یې ډیر ښکلے

★★
★

www.pukhto.net



## خیبر پښتونخوا

په مونږ باندې خوږ دَ خپل بدن دے
خیبر پښتونخوا ښکلے وطن دے

(۱)

وطن دے ګلزار ، پښتون ګلونه
اوسیږی پکښې ، ټول لکه ورونه
دا خړې کوځې ، چاپیره غرونه
سپرلے سپرلے دے ، چمن چمن دے
خیبر پښتونخوا ښکلے وطن دے

(۲)

رنګین مازیګر ، ښکلے سحر
حیران به دی کړی، هریو منظر
زړګے دَ ټولو دے پیښور
ښائیست یې سوا په فرانس لندن دے
خیبر پښتونخوا ښکلے وطن دے

(۳)

خلوص ملمستیا، دَ دی فطرت دے
په ټول جهان یې، مقام اوچت دے
دَ ننګ ناموس یې ، څومره شهرت دے
په تیښته ترینه ، هریو دشمن دے
خیبر پښتونخوا ښکلے وطن دے

(۴)

پردیس کښې څه دی ، بې دَ غمونو
ژوندون تیروؤ ، تش په یادونو
وطن مې ښه دے ، په وطنونو
ساګره زړه مې ، پسې غمژن دے
خیبر پښتونخوا ښکلے وطن دے

★★★★

★★

★

www.pukhto.net



## زهره

دا چې پشان دَ "ن" په شکل ښکاری
په جهنډه دَ پاکستان کښی
هم دا ستورے او سپوږمۍ ده۔ دَ نفرت تورتم کښی خاندی
دا هلال ، او زهره دواړه
دَ وحشت تیاره شوه خړه
دا ظلمونه به هم لړشی
امریت به شکست وُخری
بې امنی به کډه یوسی
خوشحالی به زر دے راشی
بیا دَ امن به چرچه وی
په هر څه کښی به انصاف وی
دا جهان یې ټول بیدار کړو
ځان ته یې ټول متوجه کړه
علامت دا دَ ژوندون دے

په تیارو کښې هم پړقیږي
خپل مقام یې هم پیدا کړو
دَ هلال په غیږ کښې ناست چې دا زهره ښکلې ښکاریږي
قاتلانو له تنبیه ده
غدارانو له تنبیه ده
خیرخواهانو له دے زیرے
دا پیغام دَ همدردۍ دے
دا انعام دَ صداقت دے
سیاره نه ده دا نور دے
دنیا ټوله یې روښان کړه
دَ دې غیږ کښې محبت دے
هم جذبه هم ورورلي ده
دې کښې امن دے حیا ده
هم خواري ده هم محنت دے
شرافت دے او دوستي ده
دی کښې عدل او انصاف دے

www.pukhto.net



دَ هلال په غیږ کښې ناسته دا زهره سیاره ښکاري
خوشخبري ده مونږ لپاره
دَ غریب فریاد به اوري
دَ ظالم لاس به نیول شي
ټول به خاندي خوشحالیږي
دَ یو بل نه به زاریږي
په یو بل به قربانیږي

★★★★

Pukhto.Net پښتو

## غزل

مستو سترګو کړم بیمار خوندونه اخلم
دَ مئین زړه بې قرار خوندونه اخلم

مرګ او ژوبلو مې دَ کلی نه زړه تور کړو
راغلم کلی نه دَ ښار خوندونه اخلم

ښکلے یار راته په سرو شونډو مسکے دے
په خزان کښې دَ بهار خوندونه اخلم

کله کله ډیر دَ مینې ګوزار راکړی
دَ پستو ګوتو ګوزار خوندونه اخلم

www.pukhto.net



دا چې زه یې وخت په وختې قاره ومه
دَ غصې نه یی په لار خوندونه اخلم

ناز ادا یې وار په وار جادوګری ده
ورته ګورم وار په وار خوندونه اخلم

باجوړی ساګره نور مې څه کار نشته
نن سبا دَ انتظار خوندونه اخلم

ډیره اسماعیل خان 02/07/2011

## هائیکو

ماوئیل جنګ به دَ خبرو وکړو
دنیا دنیا یې په وهلو کړمه
ایله ښارخ مې دَ هډوکو ښه شو

★★★

شپږ سرکونډۍ مې خوشحالۍ نه وکړې
چې په ړومبۍ ځل مې زرګون بیاموندو
هغه سرکوزے هم نقلی اوختو

★★★

ماویل توبه مې دَ رکشې دَ سورلۍ
هغه ویل ځان له لینډ کروزر واخله
ماویل هغه کښې زما ساه تنګیږی

★★★



استاد ویل پئیو سره دماغ تیزیږی
شاګرد ویل دا خبره سمه که وے
زمونږ کټے به انجنئیر وے اوس

★★★★

ماویلی ډانس به روره څنګ ازده کړم
هغه ویل دا څو دومره ګرانه نه ده
چرته بهرتی شه په ټریفک پولیس کښې

★★★★★

www.pukhto.net

## غزل

څـنـګـه ډرائيـور چې سوارو ته خوشحالېږي
دغـه شـان افسـر زمونږ روپو ته خوشحالېږي

دا نـه ده چې دا نـور قـومونه واړه بې ګناه دي
واکدار دَ پښتون هسې شرميدو ته خوشحالېږي

دَ بـعـضـو پاکستان په پټه خله خېټه ته واچو
دا څـنـې خوار پړق تشو نعرو ته خوشحالېږي

مُـلـيـان په حکومت کښې په مثال دَ ټماټر دي
دوی هره ترکارۍ کښې پخيدو ته خوشحالېږي

★★★★★★
★★★

www.pukhto.net



## "مننه"

زه دَ لانـديـنـو مـلـګـرو مـنـنـه کوم چې ماسره يې دَ دې کتـاب په چاپ کولو کښې هر قسم اصلاحي او اخلاقي هلې ځلې وکړې ـ په هره مرحله کښې ئې زما حوصله افزائي کړې ده او ماسره يې هر قسم تعاون کړے دے ـ

دَ بـاجـوړ پښتـو ادبي ټـولـنې ټولو ملګرو خصوصا دَ ، مـنـورجـان وفـا ، ، صـفـدر دانـش ، عـالمګير تنهـا، رفيع الله احسـاس ، ډاکټر رحمت الله ماموند ، ولايت خان ولايت ، سردار خان بـنـديوان ، ابرارالحق بينوا ، بخت زاده شاعر ، علي رحمن روغ ليـونـے ، ماجد بې وس ، اورنـګزيب انقلابي ، کفايت الله خـلـوزوال ، شـکـيـل احـمـد سـاحـر ، نـثـار فرقاني ، جان زيب حسـرت ، نـاصـر حيـران ، سيـدا جان راحل ، حـوالـدار عزيزالله مـامـومـنـد ، عـمر محمد مفلس ، حبيب احمد انکسار ، اختيار ګل اختيار ، مسلم سحاب ، اشرف خان صديقي ، سعيد جليل ، اسـحـاق انګار ، شمس الهدیٰ شمس ، عبدالله جان اسير، مسافر پرديسي ، جاويد کمروال ، بوم بوم اقبال ، ماسټر عزيزالله تنها ـ

دَ خـپـلـو مشـرانـو جان بهـادر صـديـقـي ، محمد سليم

شاهد ، دوستانو عبدالوکیل شیدا ، عبدالودود بادل ،
عبدالمتین خاکسار، سلیمان صدیقی ، عبدالوهاب ماما ،
نیازولی خان ، اعظم باجوړی ، سید نبی سید ، ډاکټر غلام
یوسف ، ډاکټر حضرت محمد ، پرنسپل بهادر سید ، ریاض
سټېنو ، مصطفی ، طیب ، مستقیم ، عالمزیب ، اقبال ، رحیم
چاچا، محمد طیب ، محمد یونس ، قاری لقمان، امان الله ،
اعتبار سید کاکا ، زیرالله ، محمد رحمن خلفل ، عبدالله ،
سیدورحمن ، محمد زبیر بیلوټ ، محمد نذیر ، محمد خان
ګړېګالے، سیف الدین صدیقی ، ټیلر حیات الله تبسم ، مامور
خان ، طور ګل شاکر ، حوالدار عبدالجبار ، حوالدار عبدالغفار ،
ملا حمیدالرحمٰن ، ډاکټر ابراهیم ، ډاکټر عبدالسلام ، عمران
خان ، حاجی مظرف خان ، حاجی عبیدالله ، حاجی طورسم ،
ممتاز خان ، زرین سید حکمت ، اکرام الدین ، لقمان ، صلاح
الدین ، شاه خالد مته شاه ، جمشید اقبال ، احمد زاده ، حاجی
اجمل ، میرحسن خان خلجی ، ماسید ، محمد جمیل ریګے ،
ابراهیم شبقدر ، رئیس خان ، مقدر خان ځوانی ، داؤد خان ،
سیدالله ، یوسف سباؤن ، سعید ، سلیمان ، رحمت الله ، فرمان،



وحیدالله ، طارق شمشاد هوټل والا ، همش خان ، لقمان ایل ،
ایس ، سلمان ، ظاهر محمد پیمان ، یعقوب شاه پیمان ،
سعدالله جان ، ملک مومن خان ،حاجی محمد سید ، عُزیر ،
رؤف استاذ ، فاتح رحمن ، ملک سیراج ، دلاور ، ملک برهان ،
ملک طارق ، ملک عثمان ، سمیع الله ، صاحب جان ، مناسب ،
ملک ضیاء الرحمٰن ، فضل واحد غلام ، طاهر ، شوکت ،
احسان الحق ، خانواده ، سیدالله ، ملک هدایت ، عبدالرشید ،
حیدر زمان ، عبدالرحمن ، ملک عمران ، حبیب ، حبیب الحق
، امان الله ، جمعه خان ، ملک اسرار ، شمس الدین ، سلام ،
ملک امجد ، ملک شوکت ، ملک نجیب ، شبیر احمد ، سیف
الرحمن ، عبدالله ، عبدالرحمن ، فضل سبحان عاجز ، شاه خالد
، جاوید فرهاد، هدایت دل جلے ۔ ادریس ، لعل بادشاه ، کشمیر
کاکا ، حاجی شیر بهادر ، یارولی خان سیټهـ ، ممتاز ، شیروان ،
عثمان ، خالد ، ایاز، بشیر ، صلاح الدین ، نظام الدین ، حسن
خان ، خیرالرحمن ، خانواده ، نورحمن ، ګل زمین خان ، بادشاه
، رحمت الله وفا ، حاجی ښائسته رحمن ، جان سید ، افتخار
ګل رحمن استاد ، سیف الله ډرائیور ، خائسته ، شکور

www.pukhto.net

مستری ، یونس مستری ، صبغت ، لیاقت ډرائیور ، شیرولی
خان ـ ملک احسان الله ، ملک سبحان الله ، ملک کفایت ، ملک
عطاء الرحمن ، ملک زیر علی ، ضیاء الحق ، عزیزخان ،
خانواده حیات الله ، عثمان ، اعجاز ، عیسیٰ خان ، حضرت
عمر ، اکرام الدین ، الیاس ، عطاء الله ، اسماعیل ، میرزمان خان
، گل زمان ، زرسید ، مرجان ، سلیمان ، نجیب ، رحمن الله مانړ
و ، ادریس ، صادق ، جاوید ، آیاز ، تورخان ، همیش ، سید
رحمٰن ایف سی ، شوکت ، لعل ضمیر ایف سی ، نورحمٰن ،
عبدالمالک ، سعید ، خورشید ، عبدالرشید ، محمد جان گټ ،
عمران ، حیدرارمانی ، عزیز الرحمن ډمبرۍ ، صاحبزاده ،
ابراهیم ، اسماعیل ، سلیمان ، نصر الدین ، شاه تر ، فروش ،
سهیدالله ، تلاوت ، عبدالوهاب ، وکیل ، احسان الحق شانۍ ،
حلیم گل ، حبیب الله فنکار ، وحید الله تنها ، حاجی شکور ،
عبدالغفور، علیر ، فضلی ، عبدالخالق ، رحیم گل ، گل سعید
، سعید وراره ، روشندین ، فرمان ، لقمان ، شبیر ، اقبال ،
محمدالله ، داؤد ، محمد رحمن ټیلر ، حبیب الله بلګۍ ،
رحمت الله ، محمد گل جواد ، احسان الله ، بشیر ، اعجاز ، زبیر



ایف سی ، عبدالغفور دوکاندار ، گل رحمن دوکاندار ، الیاس
خان دوکاندار ، اختر منیر ، خلیل ، سلطان محمد استاد ، لعلی
، سمسور خان ، سبحان الله ، سمیع الله ، فضل اکبر ، صاحب
گل ، سبحان الله ایف سی ، ادم خان ، خان گلاب ، قادر خان ،
ظهور ، روح الله ، بادام ، امان الله ، عبدالرؤف ، ریاض ، اسرار ،
عبدالواحد ، اسامه صدیقی ، عمیر صدیقی ، یوسف عرف
شاه ولی خان ، اسماعیل ، وکیل ، ډاکټر شیر زمین ، ریاض ،
روح الامین ، وقار ، سبحان الله سبحان ، شکور ، عبدالرحیم ،
ادریس ، جاوید دوکاندار ، اجمل ایف سی ،ضیاء الدین ایف
سی ، لقمان ، بخت روان ، صوبیدار دلاور خان ، سراج ، اجمل
دوکاندار ، نسیم خان ، محیب الله چوهدری ، عبدالمالک خان
دوکاندار ، ډاکټر خان شیر ، ډاکټر محمد عمر ، اختر گل
دوکاندار ، رحمت الله ، نعمت الله ، احسان الله ، قائد رشید ،
اجمل ، گل زمان خان کوټ چهته ، زیزور، خلیل الله ، گل نذیر
، حبیب الله ، مناف ، عبدالله ،عماد الدین ، درویش ، بشیر ماما
، عنایت الله کاشف ، اسلام الدین فرهاد ، گل نواب دلسوز،
احسان الله حیران ، امدادالله امداد ، نجیب الله بې وس ، غلام

www.pukhto.net

رسول عرف طوطی ، جمیل ، محمد شفیع ، الیاس ایف سی ، سلیمان تنها، امان الله ، عبدالولی پی او ، ډاکټر امان الله ، قاری محمد اسماعیل ، ډیره زیاته مننه کوم ۔

ډاکټر خلیل الرحمن کلان ، محمد طیب شاهین ، محمد اسماعیل ، محمد ادریس ، بادشاه ، سبحان الله ، فراز ، حاجی فاروق ، حاجی پرویز ، ګل زاده ، هدایت ټیلر ، شمشاد، منصور ، داؤد ، سید غفور ، الیاس نسوار والا ، فضل ، امان الله ، شفیع الله ، رحمت الله ، مجید ،

خالد توحید آباد ، جاوید ، وحید جان ، زاهد ، نثار ، لیاقت ، شوکت ، عالم دین ، جدید ، عزت خان ، طورخان ، خانواده ، شفیق ، ذاکر ، جمدالی ، انوارالله نارول ، جهانزیب ، سلیم خان ، ملک خیرو، خان زمان ، شاه زمان ، سلیم مشنګ ، شینا خان ، غواص ، شیرین، هیډ ماسټر خان زرین موړه ، خالد خان ، سید اکرم ، محمد اکرم ، داؤد خان ، رئیس خان ، ګران ، تاج ، محمد دین خان زرے ، غلام نبی آزاد ، خالد خان ، غلام ، متیع الله ، خان زیب ، عالمزیب ، صلاح الدین، نور محمد ، مجاهد جلبل ، غلام ، ایوب ، بختور ، احمد ، سعید ، قاری

www.pukhto.net



عبدالمجید ، ډاکټر سهیل ، محمد بلال لغړی ، عبدالسلام ، عبدالکلام ، شاکر کباړی ، ارشاد ، تاج محمد تاجو ، نورمحمد ، اجمل موبائل والا ، سمیع الله لیوی ، نعیم ، رفیق ، امانت ګل ګیله مند ، نواب ، اقبال ، سلیمان ، طورجان ، ضیاء الرحمٰن الفت ، جنت ګل ، ملتان دَ ملګرو ، وحید ، رشید حاجی ، محمد جان ، داؤد ، سعید ، عمیر ، محمد یونس ، سمیع الله ، منداخان ، تورخان ، محمد ، حبیب الله ، طالب ، زاهد ایراب ، خان محمد ، نثار الحق ، رحمت الله ، داؤد، محمد نعیم زګی ، نجیم ، عرب جان ، علی محمد ، عمران ، صلاح الدین ، عبدالرشید ، ګل فراز ، عرفان ، فاروق استاد ،

امیر سلام عنایت کلے ، خانے ، شاه پور ، حضرت اسلام ، شفیق ، شهاب الدین ، حضرت حسین ، عبیدالله ، عالمګیر ، حاضر دانش ، عنایت الرحمٰن چرګانو والا ، شوکت ، صلاح الدین ګهائیل ، عدنان بلند فوټو ګرافر، محمد اسرار رحمن آباد ، عبدالغفار ، جاندار خان ، قاهر ،

شاه نواز خان خار ، محمد جان عرف پاچا ، ریاض ، زاهد ، حاجی ګل مچهلی فروش ، محیب کمپیوټر والا ، فضل کریم

الفت ، ګوهر علی سمندر ، شاه حسین ، اکبر ، انوارالحق ، تاج
منان ، قاری صفت الله صفت ۔ محمد اجمل صدیق آباد پهاټک
، عظیم خان ۔ ولی محمد ، شیروان ، حنیف الله جان ، شاهد
حبیب ، محمد انور،انور مچو والا۔

دَ برخلوزو دَ ملګرو ، ملک آیاز خان ، ملک شاه ولی
خان ، ملک صلاح الدین ، ملک کاکاجی ، ملک عالمزیب خان
، ملک سرتاج، ملک برهان ، ملک سمیع الله ، محمد ، خان
محمد ، حاجی اعتبار سید ، حاجی همیش ګل ، محمد سید ،
اسلام سید ، امت سید ، نعمت سید ، انور سید ، رحمن سید ،
اسماعیل دانش ، احسان الله ، سید غلام ، خانواده ، رحمن الله
، ارشاد ، ربانی ، علاقه دار ، اقبال ، شاه خالد ، مومن سید ،
عبدالمالک ، فضل مالک ، عبدالرازق ، حبیب الله ، حاجی ادم
ساز ، زرین ، منظور پټهان ، بشیر پټهان ، لعل محمد ، رئیس
خان ، نثار ، محمد علی سیدعرف میا ں جی ، سلطان ،
شمشاد، سدهیر ، ډاکټر حبیب ، کفایت ، شیرزاده ، امیر زاده ،
راحت ولی خان، کامل ، سیف الله ، شمشیر ، ظهور ،

لرخلوزو دَ ملګرو ډاکټر ابراهیم اعجاز میډیکوز ،

www.pukhto.net



کشرخان استاد ، فضل واحد استاد ، ملک ریاض ، ملک سجاد ،
تاج محمد ، حیدر علی ، زاهد، سردار ، جان زیب ، زبیر ، ریاض ،
لعل زاده ، جاوید ، روح الامین ، شیر زمان خان ، خان ، هدایت ،
اصغر ، امان خان ، شفقت ، خیرالله ، سیدعواث ،

آئی آر سی دَ ملګرو ، فریدالله خان وزیر ، خالد محمود
کنډی ، تقدیرالله محسود ، محمد نور محسود ، عظمت
محسود ، شاهد محسود ، وقاص محسود ، محمد زمان
محسود ، زاهد محسود ، اسلام ګل ، شاه سعود طورو ، عزیز
خان ، فاروق اکرم خټک ، عمران افریدی ، امین سلارزی ، محمد
علی ډاګی ، ارشد صوابی ، فهد عباسی ، ظهور ، منیر خان
مروت ، تنویر مروت ، عارف خان مروت ، مرتضیٰ چارسده ،
تحسین ، محمد ریاض بنوڅی ، ډی آئی خان دَ ملګرو ، بصیر
خان ، طاهر محمد طاهر ، سردار آسی ، موزمین ، سید عالم
،رحمن الدین ، شهاب الدین ، احمد شاه ، رحمت الله ، ضیاء الله
، جمال شاه ، مرالی جان ، شیرزاد ، جاوید ، حیات ، شاه نظر ،
عمران ، ارشد، شاهد ، ظهور هوټل والا ، بلال ، عابد زمان ،
بخت محمد ، ظاهر شاه ، اجمل وزیر ، عمران وزیر ، افتحار

برکی ، احسان الله ساگر ، سیوی دَ ملگرو ، ملک سعید احمد ، ریاض ، بنارس ، پردول ، نجیب ، غلام محمد ، خالد خان ، تحصیل ، عبدالرحمن ، عزیز الرحمٰن ، حبیب الرحمٰن ، وحید گل ، شریف گل ، حبیب گل ، ښائسته رحمٰن ، علی رحمن ، نورمحمد ، خاطر ، نواب سید کمر ، ملک عبدالولی ، ملک حیدر ، ولی سید موړه ، خانواده ساگر ، عزیز الله این آر ، پیر محمد، ستانه گل ،عبدالرؤف ، یوسف، اختر منیر ، عثمان ، ریاض ، بخت منیر ، اختر محمد ، سید احمد جان ، محمدا جان ، اکبرجان ، حبیب الرحمٰن ، عبدالوارث ، فراز ،

یادشاه لیکنده ، سیدارب ، شاه زمان ، رسول خان ، فضل منان ، عبدالحنان ، عبدالمنان ، اول خان ، رستم خان ، فضل ربی ، محمد رحمٰن ، حبیب الرحمٰن ، عبیدالله ، حبیب الله ، زین الله کاکا ، همیش خان کاکا ، ډاکټر جلیل ، عظیم خان ، عارف خان ، اورنگزیب ، پرویز ، خالد ، جان فقیر ، سبز علی ، کشر خان حاجی ، حاجی اعظم ، محیب الله ، یسین ، هدایت ۔

وحیدالله گواتے ، وحید گل ، عبدالحق ، عبدالقیوم ، انجنئیر حفیظ الله ، روح الامین گټ ، گل سید اگره ، صلاح



الدین ، ډاکټر رشید ، ظاهر شاه ، مرسلین ، ډاکټر انورخان ۔

باچا منیر نوے کلے ، ستانه گل ، اختر ، حضرت سعید عرف شینو ، عمیر ، بخت منیر ، شاه منیر ، عثمان ، سلام شنډۍ موړ ، ملک لیاقت نیاک ، اقبال ، حیات ، سعید الحق ، عبدالخالق ، رحمن الله لیکچرر ، محمد حیات ، عبدالوهاب ، اسحاق ، عبدالرازق ، جان ولی ، عبدالرحمٰن ، سهید الله ، سیراج ، باجانا روان ، سید احمد ، ظهیر خان ، فضل واحد ، مشتاق ، سمیع الله ، عزیز ، شاه خالد ،

فیصل آباد دَ ملگرو ، حاجی شینا خان ، منان ، اختر شیر ، ملنگ خان ، سلام ، داؤد خان ، مجید ، رحمن الله ، ظهورالله ، حمیدالله ، احسان الله ، مرسلین ، محمد یونس ، جان محمد ، حاجی محمد عزیز ، حاجی ستانه گل ، ظریف خان ، سخی رحمٰن ، حاجی حکیم خان ، فضل ، لعل خان ، گل حکیم ، امین الله ، طاهر ، فقیر خان ، اول خان ستتر ، حبیب پروانه ، رانا نعیم ، سیف بهائی ، منان ، مبارک علی ، حاجی اشرف چائے والا ، حاجی اصف ، رضوان ، سبز علی لیوی ، جلال الدین ، حمید ایف سی ، عبدالغنی حوالدار ، زاهد

www.pukhto.net

خوړچی ، حوالدار جبین خان ، عمران ، بختیار ، مختیار ، حبیب الله ، عطاء الله ، ډاکټر رضا خان ، نظام الدین ، پرویز ، دیر استاد ، محیب، جمال ، ګل حسن خان ، رحمٰن شاه ، ګلاخان ، اسرار خان ، داؤد ، فرمان ډرائیور ، عنایت الله ـ

سید عمران کمرسر ، ایوب ، امان الله ، شامت خان ، نعمت ، عمران ، نعمت خان ، فضلی ، ظاهر شاه ، فضل محمود ریګے ، محمد زاده ، حیات الله ، بلند حاجی ، ډاکټر نسیم ، عبدالمجید ، عبدالرشید ، عبدالعزیز ، عبدالوکیل ، شاه ولی خان ، خان شیر کلان ، سید محمد، ډاکټر احسان الله ، همیش خان ، ګل شیر ، حکیم جان ، رحمٰن جان ، مسافر، عنایت الله ، ډاکټر عبدالمالک ، مصباح الدین باغ ، حیات ، اعجاز ،

صلاح الدین سیسی ، انجنیر برهان الدین ، اعجاز ، انور، داؤد ، نیازولی خان ، اسرار ، سیراج ، مسافر ، خیسرو ، انورخان میتهو ، شاه پور ، محمد خان ، محمد طاهر ، احسان الله ، شفیع الله ، یوسف، سلیمان انتظار ، تازه خان ، سید احمد خان ، تاج محمد خان ، قیوم خان ، برهان ، شکور ، نظام الدین ، عرب خان ، حبیب الله ، نعمت ، فیروز خان ، جلیل ، خلیل ،

www.pukhto.net



رحمن الله ، ظهیرالله ، محمد یونس، شاسور خان ، شموز خان ، لیاقت ، شوکت ، عبدالغفور غاخے ـ ګل وزیر رباب ماسټر ، عبدالرؤف ، شمس ، صلاح الدین ، اقبال ، دلاور، اصغر عمرے ، جمشید ، وهاب ، ملنګ ، مندالی وزیر آباد ، عبدالحق ، سعید الله ، درویش ، تاج محمد ، چوهدری بشیر احمد ، کامران،

باچاعابد بیلوټ ، حاجی یوسف ، حاجی بختیار، طاهر، جان زیب ، فضل سبحان ، نعمت الله شاکر ډبر ، فضل حکیم ، طارق عزیز ، عمرحیات صدف ،

پېښورد ملګرو سعیدالله راهی ، عبدالرازق ، فضل سبحان ، عرفان ، شفیق ، عبدالخالق ، شاکر ، تاج ، قاری رفیق ، باچاګل ، خیرو ، ضیاء الرحمن ، منظور ، منان ، حضرت ، نورخان ، حاجی وحید ، امجد ، ګل زمان عرف ګل زیے ، غفور ، سلطان محمد امیر ، همیش ، کشمیر ، شموز ، زیر امین ، محمد علی مومند ، حمدالله ، زاهد، شاکر ، فضل معبود ، میراعظم ، قاسم ، سعید دوکاندار ، امیر باچا، امیر بهادر ، نصرالله نصیر ، عبیدالله عبید ، حاجی صدیق الله ، زبیح الله ، قاری صفی الله ، الحاج سید عبدالله

، صبغت الله ،

فضل سبحان دانش شریف خانه ، عبدالواحد ، عبدالوهاب، عبدالصمد ، ماجد ، فضل ربی ، داؤد ، عبدالودود، فضل الله، بشیر،

لینګویج سنټر دَ ملګرو ، جمیل چینه ګی ، آیاز خان ، رحیم الله ، مولوی عبیدالله ، عنایت الرحمن ، اکرام ، روح الامین شاه ګو ، عبدالرزاق ، عبدالغفار خان ، ډاکټر تحصیل خان ، سعیدالله ، نجیب الله ، علی رحمٰن ، خلیل ، قاری نظام الدین ، صاحب ډمه ډوله ، محمد ، محیب الله ، اسماعیل ، ظاهر شاه ، محمد رفیق ، محیب الله عادل ،شاکر ، طورو مردان دَ ملګرو ، مبصر نادر طورو ، کامران طورو ، اسد طورو ، محمد اکرام طورو ، محمد شبیر طورو ، بشیر طورو ، حاجی زوار طورو ، جنید طورو، صیب زر طورو ، ضیاء الله خان طورو ، منظور احمد ثانی طورو ، اصف رضا طورو ، رفیع الله خان طورو ، سفیر خان طورو ، نورالله طورو ، وصال محمد طورو ، مجاهد طورو ، فواد علی طورو ، امین باچا طورو ، خالد باچا طورو ، حارث طورو ، محمد سلیم مایار ، امجد مری ، سجاد

www.pukhto.net



ټانکوئې صوابی ، سعید خان ، ډاکټر لقمان باجوړی ، ډاکټر اصغر علی خان روغانی ، ډاکټر اکبر علی خان بونیری ، ډاکټر عجب خان بونیری او حبیب الله سټینو ډېره زیاته مننه کوم چې مونږ سره یې خپل نیک جذبات او پُرخلوصه دعاګانې ملګرې کړې ۔

**لعل زاده ساګر**